قَالَ شَيْخُ الِاسلاَم ابنُ القَيّم رَحِمَهُ الله وأدَبُ المرءِ عُنْوانُ سَعَادَتِهِ وَفَلاَحِهِ وَقِلّةُ أدَبِهِ عُنْوانُ شَقَاوَتِهِ وَبَوارِهِ فَمَا استُجْلِبَ خَيْرُ الدُّنَيا وَالاخِرةِ بِمِثْلِ الأدبِ وَلاَ استُجْلِبَ حِرْمَانُها بِمِثْلِ قِلَّةِ الأدَبِ. نضرة النعيم ٢/١٦٩

# د ژوندانه اداب





ليكوال: ابو الزبير عبدالرب عواد

## کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| کتاب نوم: | **د ژوندانه اداب** |
| لیکوال : | ابوالزبیر عبدالرب عواد |
| کمپوز: | گل محمد عادل |
| خپرندوی: | افغان خپرندویه ټولنه،جلال کوټ |
| چاپ شمېر: | ۱۱۰۰ |
| د چاپ وار: | دویم |
| چاپ کال: | ۱۳۹۶ هـ ش یا ۲۰۱۷ میلادي |
| بیه: | (     ) |


**د چاپ حقوق د خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.**

**د تر لاسه کيدلو درک:**

**افغان کتاب پلورنځی ــ جلال اباد_افغانستان**

پته: لاندې پوړ، اسحاق زی مارکیټ،بزازۍ ځلور لارې ،جلال آباد.

(+۹۳) ۷۸۰۸۵۶۱۷۴ - (+۹۳) ۷۷۹۰۹۰۷۸۲

Gullmuhammadadil۷۸@gmail.com

Afghanpublisher-Nangharhar

## مقدمه

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

قدرمندو مسلمانانو ورونو! اسلام يو ډېر ستر او ځلانده دين دی او د اسلام مبارک دين ډېرې خوبيانې لري چې دا ټول په دې دلالت کوي چې کوم حقوق د اسلام مبارک دين هر چاته ورکړيدي نو دا د نړۍ هيڅ کوم دين نه دي ورکړي.

مونږ او تاسې په دې کتاب کې ګورو چې په اسلام کې د هر کار له پاره مستقل او جلا اداب ښودل شوي دي من جمله د هغې نه د دعاء اداب، د مسجد اداب ، د لارې اداب، د مور او پلار اداب، د خوراک اداب، د جنازې د لمانځه اداب، وغيره وغيره.

خو دا ټول هغه څه دي چې د اسلام په خوبيانو دلالت کوي او د اسلام خانګړتيا ده د نړۍ په نورو اديانو باندې. الله تعالى دې وکړي هغه ورونه چې دا کتاب ولولي د دې فايدو نه بې برخې نه شي او د ژوند په اړخ کې يې بدلون راشي او الله تعالى دې دې کتاب ته قبول حسن ورکړي.

ستاسې ورور

ابو الزبير عبدالرب عواد

# لړلیک

| موضوع | مخ |
|---|---|
| مقدمه | ۱ |
| د الله جل جلاله سره اداب او اخلاق | ٤ |
| رسول الله صلی الله علیه وسلم سره اداب او اخلاق | ۵ |
| د قرانکریم د تلاوت آداب | ۷ |
| د صحابه کرامو سره اداب او اخلاق | ۱۰ |
| د علماء کرامو سره اداب | ۱۱ |
| د دعوت اداب | ۱۲ |
| د جُمعې ورځې اداب | ۱۳ |
| د لمانخه اداب | ۱۵ |
| د جنازې د لمانخه اداب | ۱۷ |
| د غم او مصیبت اداب | ۱۸ |
| د سفر اداب | ۲۰ |
| د ویده کېدلو او وینېدلو اداب | ۲۳ |
| د جامو اداب | ۲٦ |
| د لارې اداب | ۲۹ |
| د خوراک، څښاک اداب | ۳۱ |

د مجلس اداب ............................................................ ٤٢
د سلام اداب ............................................................ ٤٤
د جومات اداب ............................................................ ٤٧
د میلمستیا آداب ............................................................ ٥٣
د روژې اداب ............................................................ ٥٥
د دعاء اداب ............................................................ ٥٧
د ناروغ د پوښتنې اداب ............................................................ ٦٠
د ملاقات (لیدنې، کتنې) اداب ............................................................ ٦٢
د خبرو اترو اداب ............................................................ ٦٤
د مور او پلار اداب ............................................................ ٦٧
د مشورې اداب ............................................................ ٧٠
د کوروالي اداب ............................................................ ٧١
الخاتمه ............................................................ ٧٤
د لیکوال چاپ شوي کتابونه ............................................................ ٧٦

## د الله جل جلاله سره اداب او اخلاق

۱- په دې عقیده ساتل چې الله تعالی د ځمکې او اسمانونو د نظام چلوونکی دی.

۲- په دې عقیده ساتل چې الله تعالی د عرش د پاسه دی او په اعتبار د علم او قدرت سره هر چیرته دی.

۳- په هر ځای کې او په هر حالت کې د الله تعالی نه ویره کول.

۴- په راحت کې او په مشکلاتو کې د یو الله عز وجل نه غوښتنه کول.

۵- د الله تعالی سره هیڅوک نه شریکول نهٔ په ذات کې او نه په صفاتو کې.

٦- په ناپاکه ځای کې د الله تعالی د نوم ذکر او یادونه نه کول.

۷- الله تعالی په هغه اسماء او صفاتو یادول کوم چې په قران او سنتو سره ثابت دي.

۸- د الله تعالی په نعمتونو شکر کول.

۹- د الله تعالی نه حیاء کول.

۱۰- د الله تعالی د انتقام څخه ویرېدل.

۱۱- الله تعالی شارع حقیقي گڼل.

۱۲- د الله تعالی په اسماء او صفاتو کې د خدای نوم نه داخلول.

۱۳- په دې عقیده ساتل چې الله تعالی په هر ځای کې ما گوري.

۱۴- خپله ژبه هیڅ وخت د الله تعالی د یاد نه نه بندول(هر وخت په ژبه د الله تعالی ذکر کول)

۱۵- په شپه او ورځ او په هر حالت کې د يو الله تعالى عبادت کول.
۱٦- د الله تعالى د نومونو ډېر احترام او ډېر تعظيم کول.
۱۷- د الله تعالى د رحمت هر وخت اميد ساتل.
۱۸- په دې عقيده ساتل چې د دنيا او اخرت سعادت ټول د الله جل جلاله او رسول الله صلى الله عليه وسلم په تابعدارۍ کې دی.
۱۹- په دې عقيده ساتل چې الله تعالى د مؤمنانو له پاره جنت او د کافرانو له پاره جهنم تيار کړی.
۲۰- خپل سر فقط الله تعالى ته ښکته کول.

## رسول الله صلى الله عليه وسلم سره اداب او اخلاق

۱- رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالى د پيغمبر په توګه منل.
۲- مسائل د الله جل جلاله په کتاب او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په احاديثو حل کول.
۳- د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره حقيقي محبت کول.
٤- د رسول الله صلى الله عليه وسلم د شخصيت او شريعت څخه دفاع کول.
٥- د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دعوت په خپرولو کې مهمه ونډه اخستل.
٦- د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارک نوم په يادولو او اورېدلو سره درود ويل.
۷- د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوستانو سره دوستي کول او د هغه د دښمنانو سره دښمني کول.

۸- د الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم تابعداري په ځان فرض ګڼل.

۹- هر هغه عمل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحیح طریقه ثابت وي په هغې عمل کول او احترام یې کول.

۱۰- د الله تعالی او د رسول صلی الله علیه وسلم خبره د هر چا په خبرې مخکې کول.

۱۱- د رسول الله صلی الله علیه وسلم هرې سنت طریقې ته درووند نظر کول.

۱۲- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بشریت عقیده ساتل.

۱۳- رسول الله صلی الله علیه وسلم خاتم النبین ګڼل.

۱٤- د ژوند په ټولو امورو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري کول.

۱۵- رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د اُلوهیت مرتبه نه ورکول.

۱٦- رسول الله صلی الله علیه وسلم په تمام انسانیت غوره ګڼل.

۱۷- داسې عقیده نه ساتل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په علم غیب پوهېده.

۱۸- رسول الله صلی الله علیه وسلم امام اعظم ګڼل.

۱۹- رسول الله صلی الله علیه وسلم د صغائرو او کبائرو نه پاک ګڼل، د نبوت نه مخکې او وروسته.

۲۰- د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شفاعت کبری عقیده ساتل.

۲۱- د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیاني د امت میندې دي، فلهذا احترام او قدر یې لازم دی د شعیه ګانو په شان غلط ګمانونه پرې نه کول.

# د قرانکریم د تلاوت آداب

١- په اوداسه کې قران کریم ته کیناستل. (لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ) په تفسیر کې صحیح قول دا دی چې قران کریم د اوداسه په حالت کې اخستل.

٢- پاکې جامې اچول او بیا قران کریم اخستل ځکه دا د الله جل جلاله کلام دی او ډېر عزت کول یې ضرور دی.

٣- د قران کریم تلاوت ته به په عاجزۍ او خشوع کینې او تکیه به نه وهې.

٤- د قران کریم د تلاوت په منځ کې به خبرې نه کوې، که چیرته یوې خبرې ته ضرورت شو نو بیا اعوذ باالله ولوله.

٥- قران کریم چې کله تلاوت کوې نو ګوره ورته په دې کې ډېر خیر وي، اګر که د خپل حفظ نه لوستل جائز دي.

په یو حسن حدیث کې راځي ثوک چې دا خوښه ګڼي چې الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه وکړي نو تلاوت دي په قران کریم کې وکړي.

٦- قران کریم همیشه په ښې لاس کې را اخیستل، چې دا د قران کریم ادب دی.

٧- په قران کریم باندې د پاسه قدمونه نه پورته کول، هغه تختې چې قران کریم پرې ایښودل کېږي په هغې نه اوښتل او د هغې هم خیال ساتل.

۸- قران کریم ته تکیه نه وهل، امام بیهقي یو روایت نقل کړی (یَا أَهْلَ الْقُرْآنِ لا تتوسّدوا القرآن).
د دې یو مطلب دا دی چې قران کریم ته تکیه مه وهئ، دویم مطلب یې دا دی چې د قران کریم نه بالښت مه جوړوئ، دریيم مطلب یې دا دی چې د قران کریم د حقوقو او تلاوت نه غفلت مه کوئ.
۹- قران کریم کې لیکل نه کول خو که د چا خط ښه وي، او جدا ځای موجود وي د لیکلو له پاره نو ان شاء الله جائز به وي لکه نن چې عام طالبان په بیاض قران کریم کې لیکل کوي.
۱۰- د قران کریم د تلاوت پر مهال په قراني مضمون کې سوچ او فکر کول.
۱۱- په زړه کې د قران کریم تعظیم او لویوالی ساتل چې دا د الله تعالی کلام دی او کتاب دی.
۱۲- د قران کریم د ځینو ایاتونو سره د هغې موافق دعاګانې کول.
۱۳- تر ټولو مهم دا دی چې په قران کریم عمل وشي چې د دې سره د انسان دنیا او اخرت خانسته کېږي.
۱٤- د قران کریم تلاوت چې کله هم کوې نو په ډېر مینه او شوق سره یې کوه او دا باور وکړه چې د قران کریم سره مینه د الله تعالی سره مینه ده.
۱٥- کوشش وکړه چې ډېر وختونه د قران کریم په تلاوت ډک کړې ځکه چې دا بهترین عمل دی او په هر حرف لس نیکۍ دي.
۱٦- د قران کریم تلاوت د خپلو اعمالو او اخلاقو برابرولو په عقیده کوه او په خلکو کې د خپل ښه اواز په وجه د قران کریم محبت خپور کړه او خپل ظاهر او باطن پرې برابر کړه.
۱۷- د قران کریم د تلاوت پر مهال قبلې ته مخ کړئ او په ډېره عاجزۍ سره ورته کینئ.

۱۸- ډېر کوشش وکړه چې د قران کریم په تلاوت کې د تجوید د قواعدو لحاظ وساتل شي او هر حرف د خپل مخرج نه اداء شي.
۱۹- قران کریم په ډېر اوچت اواز مه لوله او نه په ډېر ټیټ اواز بلکې درمیانه اواز سره تلاوت کوه.
۲۰- کوشش وکړه چې قران کریم زیاته برخه د شپې د تهجدو په لمانځه کې ولولې چې دا زموږ د سلفو طریقه ده.
۲۱- د دریو ورځو نه مخکې قران کریم مه ختموه، زیاته هڅه دا کوه چې په هفته کې یې یو ځل ختم کړې.
۲۲- د قران کریم د تلاوت په وخت کې دا کوشش کوه چې زه باید څنګه په قراني احکامو عمل وکړم او ډېر وخت کې لږ تلاوت وکړې د عمل جوړولو په خاطر لکه څرنګه چې عمر رضي الله عنه سورة البقرة په (۱۲) کالو کې ختمه کړې وه او عبدالله بن عمر رضي الله عنه په (۸) کالو کې ختمه کړې وه.

## د صحابه کرامو سره اداب او اخلاق

۱- د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره مینه درلودل.
۲- صحابه کرام رضي الله عنهم د نورو مسلمانانو نه غوره ګڼل.
۳- په صحابه کرامو رضي الله عنهم کې خلفاء راشدین غوره ګڼل.
٤- داسې عقېده درلودل چې صحابه کرام رضي الله عنهم په خپل منځو کې په فضلیت کې توپیر لري.
٥- تر ټولو صحابه کرام رضي الله عنهم غوره ابوبکرالصدیق رضي الله عنه دی او اخري وحشي بن حرب رضي الله عنه دی.
٦- صحابه کرام رضي الله عنهم ټول جنت والا ګڼل.
۷- صحابه کرام رضي الله عنهم د دین ستر امامان او خادمان ګڼل.
۸- په دې عقېده لرل چې د ابوبکر صدیق رضي الله عنه صحابیت په قران کریم کې ثابت دی.
۹- علي رضي الله عنه په ټولو انبیاء او صحابه کرامو غوره نه ګڼل، بلکې په ټولو صحابه کرامو کې په دریېمه مرتبه کې دی.
۱۰- په دې عقیده ساتل چې عشره مبشره صحابه کرامو په یو مجلس کې د جنت زیری ورکول شوی دی.
۱۱- د صحابه کرامو رضي الله عنهم د نوم اخیستلو سره رضي الله عنه ویل.
۱۲- د صحابه کرامو ترمنځ چې کوم اختلافات یا جنګونه راغلي دي په هر مجلس کې د دې یادونه نه کول.

## د علماء کرامو سره اداب

١- د علماء کرامو اداب او احترام لازمي ګڼل.

٢- د علماء کرامو د غيبت او چغلخورۍ نه ځان ساتل.

٣- يو عالم ته په نامه نوم نه اخستل.

٤- د علماء کرامو لار خپلول چې کله د قران او سنت سره موافق وي.

٥- علماء په ټولنه کې غوره خلک ګڼل.

٦- په علماء کرامو سپک ګمانونه نه کول.

٧- علماء کرام د دين شارحين ګڼل نه شارعين.

٨- د علماء کرامو نه په لار کې مخکې نه تلل که بيا هم ضرورت وي نو اجازه ترې واخله.

٩- د علماء کرامو سره همېشه روابط ساتل.

١٠- په هره مسئله کې د يو عالم نه د قران او سنت په رڼا کې پوښتنه کول.

## د دعوت اداب

۱- زړه کې اخلاص پیداکول.
۲- زړه د حسد، کینې، قوم پرستۍ نه ساتل.
۳- خپل ظاهر د قران او سنت برابر جوړول.
٤- همېشه پاک او معطر گرځېدل.
۵- ښکلي اخلاق ځان کې پیداکول.
٦- دنیا ته ډېر میلان نه کول او د سرمایه داره خلکو سرمایې ته ډېر نه پسخیدل.
۷- د عوامو خلکو زکاتونو، خیراتونو، پوستکو او سرسایه گانو ته میلان نه کول.
۸- د خپل دعوت سره سره د خپل اهل د نفقې له پاره یو جدا کار کول لکه: تجارت کول، یا حکیمي زده کول او داسې نور.
۹- داعي باید په خپله ډېر نیک اعمال وکړي.
۱۰- په جوماتونو کې د قران او سنت درسونه شروع کول.
۱۱- د دعوت له پاره د الله تعالی نه دعاء غوښتل.
۱۲- امربالمعروف او نهی عن المنکر همېشه کول.
۱۳- د فاسقانو او غلطو خلکو د ناستې نه پرهېز کول.
١٤- د نبوي سیرت درسونه کول په مساجدو او مدارسو کې.
۱۵- د دعوت له پاره پوره دلائل درلودل.
١٦- په دعوت کې د جهنم او جنت یادونه کول.
۱۷- عوامو خلکو ته د صحابه کرامو رضي الله عنهم خوږې قیصې کول.

۱۸- په وعظ او دعوت کې علماء کرامو ته ساده خبرې نه کول، بلکې په بو علمي انداز دعوت کول.

۱۹- که یو عالم اقتصادي مشکلات ولري نو د هغې سره پټه پټه صدقه کول چې دعوت کار پاتې نه شي د هغې د مشکلاتو په وجه.

۲۰- داعي باید نفلي عبادات هم ډیر وکړي، خاصکر د شپې تهجد کول.

۲۱- داعي باید د ټولو سنت طریقو پابند وي.

## د جُمعې ورځې اداب

۱- د جمعې په ورځ د نظافت، ځان مینځلو، ښکلا او ښایسته کولو پوره خیال وساتی.

۲- د جمعې ورځ د ذکر او تسبیح او د قران کریم تلاوت او د زیات دورود ویلو له پاره خانګړې ورځ ده.

۳- د جمعې د لمانځه پوره لحاظ وکړئ، ځکه چې دا لمونځ په هر بالغ، عاقل، روغ رمټ مقیم مسلمان باندې فرض دی.

٤- د جمعې په ورځ د اذان د اوریدو سره سم جومات ته روان شئ او د خطیب خطبې ته غوږ کیږدئ.

٥- د جمعې په ورځ ډېر زیات دورود په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې ووایې. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې ستاسې درود ویل په ما باندې الله تعالی ماته را رسوي. علامه ابن القیم د درود ویلو پنځه ویشت(۲٥) فائدې ذکر کړي دي.

٦- ډېر کوشش وکړئ چې د جمعې په ورځ اول جومات ته داخل شئ. په اول صف کې کینئ او د خطیب وعظ ته غوږ شئ.

۷- د جمعې په ورځ کله چې جومات ته داخل شئ او جومات ډک وي، په یو ځای کې کینه او د خلکو په اوږو مه اوړه ځکه چې دا یوه سخته گناه ده.

۸- د جمعې په فرض لمونځ اول رکعت کې سورة الاعلى او په دوهم رکعت کې سورة الغاشیه ولولئ او یا سورة المنافقون او جمعه سورة ولولئ خو افسوس په دې چې امامان پرې عمل نه کوي.

۹- د جمعې په ورځ د جمعې د لمانځه نه مخکې ډېر نوافل وکړئ او وختي جومات ته لاړ شئ صحابه کرامو رضي الله عنهم به د جمعې د لمانځه نه مخکې ډېر نفل لمونځونه کول لکه:

- عبدالله بن عمر رضي الله عنه به اته رکعته نفل کول.
- عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به څلور رکعته نفل کول.
- عبدالله بن عباس رضي الله عنه به لس رکعته نفل کول.
- عبدالله بن جابر رضي الله عنه به دوه رکعته نفل کول.

۱۰- کوشش وکړه د جمعې په ورځ سپینې جامې واغوندئ او عطر استعمال کړئ، یا بل قسم پاکې جامې واغوندئ.

۱۱- د جمعې په ورځ سنت طریقه دا ده چې سورة الکهف ولوستل شي چې دا هم یو سنت عمل دی چې ډېر خلک ورنه غافل دي.

۱۲- د جمعې په ورځ کوشش وکړه چې ډوډۍ د جمعې د لمانځه نه وروسته وخورئ چې دا سنت طریقه ده او بل د جمعې د لمانځه نه به مخکې ډېر عبادات وکړئ.

## د لمانځه اداب

۱- د لمانځه له پاره د پاکوالي پوره خیال ساتل او د اودس کولو په وخت مسواک وهل او ښکلې جامې اچول.
۲- لمونځ پخپل وخت سره اداء کول او کوشش دا کول چې لمونځ په اول وخت کې اداء شي. په ښځو کې یوه غلطه خبره مشهوره ده چې ښځې به هله لمونځ کوي چې نارینه یې وکړي.
کله چې د لمانځه وخت داخل شي نو حپل لمونځ کوی.
۳- کوشش وکړئ چې لمونځ په جماعت سره اداء کړئ ځکه چې ۲۷ یا ۲۵ درجې فرق لري د خانته لمونځ سره او دا کوشش هم وکړی چې سنت لمونځ په کور کې وکړئ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به سنت په کور کې کول.
٤- لمونځ په ارام سره کوئ او مسنون دعاګانې په کې بولی وابه او سجده، رکوع ډیر په ښه طریقه کوه. د دوو سجدو ترمنځ دا دعاء وایه:
(اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَاجْبُرْنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي)
۵- د اذان اوریدو سره سم د لمانځه له پاره تیاری پیل کړه او جومات ته لاړ شه او هلته یو دوه رکعته یا زیات لمونځ وکړه او د لمونځ انتظار وکړه چې ډېر اجر پکې دی.
٦- د اذان د اوریدو جواب هم ورکړه، ټول کلمات د اذان کوونکي په څير وایه مګر چې د حي علی الصلاة او حي علی الفلاح کې لا حول ولا قوة الا بالله وایه.

۷- که تاسې امام یاست د لمانځه د ټولو ادابو او شرائطو سره لمونځ ادا کړئ او تيز لمونځ د خلکو له پاره مه کوئ او د مشرانو او مريضانو خيال پکې هم وساتئ یانې خالص کامل، مکمل نبوي لمونځ وکړئ.

۸- لمونځ په خشوع خضوع سره ادا کړئ او د الله تعالی عظمت په زړه کې راوړئ او هسې بې ضرورته حرکتونه کول سرګرول وغيره پرېږدئ.

۹- د لمونځ په وسيله خانونه الله تعالى ته نږدې کړي لمونځ داسې ادا کوي ګوا کې تاسې الله تعالى ګوري او یا لږ تر لږه دومره احساس ولري چې الله تعالى تاسې ګوري.

۱۰- لمونځ ډير په مينه او شوق سره ادا کړئ هسې ټوکې وهل او فقط رکعتونه شمېرل دا به صحيحه طريقه نه وي.

۱۱- په لمانځه کې د قران کريم اياتونه ورو ورو لولئ او د لمانځه نور ذکرونه هم په مکمله پاملرنه د زړه او مزاج په حاضرئ ولولئ.

۱۲- لمونځ په پابندئ سره اداء کړئ او هيڅ يې مه قضاء کوئ. د مومنانو اصلي غوره والی همدا دی.

۱۳- د فرض لمونځونو سره د نفل لمونځونو هم پوره خيال وساتئ او خپله د نيکو اعمالو ذخيره ډېره کړئ.

۱۴- د هر فرض لمانځه نه بعد نبوي اذکار ضرور ولوله چې هغه آية الکرسي. اخري درې سورتونه. سبحان الله(۳۳) خله ويل. الحمدلله(۳۳) خله ويل او الله اکبر (۳۴) خله ويل.

۱۵- د سهار او مازديګر لمانځه نه بعد نبوي اذکار مه پرېږده چې هغې ته د سبا او ماښام اذکار وايي. چې دا د مؤمن له پاره د بو قلعه حيثيت لري.

۱٦- د لمانځه صفونه بايد ښه سيده او برابر وي ښېې او اوږې بايد ضرور سره لګيدلې وي، اول صف کې بايد مشران او ښاته کشران ودريږي.

۱۷- فرض لمونځ چې وکړي نو فورا ورپسې سنت مه کوه، بلکې مکمل نبوي اذکار وکړه او بیا سنت پخپل کور کې وکړه.

## د جنازې د لمانځه اداب

۱- د جنازې په لمانځه کې ګډون وکړئ چې دا د مړي له پاره دعاء ده او دا د هر مسلمان په بل مسلمان حق دی.

۲- د جنازې لمونځ چې په هر مسلمان کوئ نو په پوره اخلاص سره يې وکړئ او ښې دعاګانې پکې ورته وکړه.

۳- د جنازې په لمانځه کې کوشش وکړئ چې طاق صفونه جوړ کړئ او د درېیو صفونو غوره والی یاد شوی دی.

۴- د جنازې د لمانځه له پاره په خولې نیت کول ضروري نه دی د زړه اراده کافي ده.

۵- که د چا چیلکې یا بوټان پاک وي نو جنازې لمونځ ورسره کول سنت عمل دی خوارلس احادیث پرې راغلي او بې له بوټانو لمونځ کول هم سنت عمل دی یانې دواړه عمله جائز دي.

٦- که تاسې د جنازې د لمانځه امامت کوئ نو باید د نارینه سرته ودریږئ او د زنانه منځ ته.

۷- د جنازې لمونځ په جهر سره کول هم جائز دي خو په پټه باندې کول يې غوره دي.

۸- د جنازې په لمانځه کې څلور تکبیره، پنځه تکبیره، اوه تکبیره ټول ثابت دي، خو څلور غوره دي.

۹- د جنازې د لمانځه په اول تکبير کې سوره فاتحه لوستل او يو سورت د فاتحې په ثبوت څوارلس مرفوع احاديث راغلي او شپږ موقوف روايات راغلي، په دوهم تکبير کې درود ابراهيمي لوستل کوم چې مونږ او تاسې په لمانځه کې لولو او په دريم تکبير کې مړي ته دعاگانې کول چې تقريباً پنځه ديرش قسمه دعاگانې په احاديثو کې نقل دي نو د جنازې په لمانځه کې يو څو ترې ولوله او په څلورم تکبير کې بيا سلام اړول دي.

۱۰- د جنازې د لمانځه پر مهال د ډېرو چيغو او شور څخه ځانونه وژغورئ.

۱۱- د جنازې لمونځ کول او بيا د دفن د وخت پورې پاتې کېدل دوه قيراطه اجر لري چې يو قيراط د اُحد د غر په مقدار وي.

## د غم او مصيبت اداب

۱- د غم يا مصيبت په حالت کې صبر کول او زغم نه کار اخيستل او داسې ويل: (إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ).

۲- مصائب انسان ته رسيدل دا تقديري مسائل دي. په دې مهال داسې کلمات د خولې نه ويستل چې په شريعت مطهره باندې اعتراض وکړي او يا دا مصيبت دومره غټ کړي چې په ډېرو مشکلاتو کې خپل ځان ښکېل کړي.

۳- يو مريض که مرض يې ډېر شي نو بې صبره کېږي دې نه او شکايتونه دې نه کوي، بلکې په دې هر څه اجر وګوره او دا صبر کول ثواب وګڼه.

۴- د یو خپلوان یا ملګري په مرګ خفګان دا فطري مسئله ده خو د درېیو ورځو نه وروسته غم کول جائز نه دي مګر ښځې کولی شي چې څلور میاشتې او لس ورځې په خپل خاوند باندې غم وکړي.

۵- مریضتیا ته کنځلې مه کوئ او له صبر نه کار واخلئ او د اخرت د اجر غوښتنه او هیله وکړئ.

٦- په غم او مصیبت کې یو بل ته د صبر او د تلقین خبرې وکړئ او حوصله یې ور زیاته کړئ. د أحد د غزا نه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم زینب بن جحش رضي الله عنها ته د خپل ورور عبدالله په شهادت د صبر او تلقین توصیه وکړه او هغې إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ وویل.

۷- د حق په لار کې په مشکلاتو او ستونزو مه خفه کېږه، بلکې خپله حوصله جوړه کړه او د خپل رب شکر اداء کړه چې ستا قرباني قبوله کړي.

۸- په غم او تکلیف کې ټول مسلمانان د یو بل سره کومک وکړي او د هغې غم خپل غم وګڼي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ټول مسلمانان په څیر د یو بدن دي، که سترګه دردمنه شي نو ټول بدن به ورسره دردمند وي.

۹- د زیاتو مصیبتونو پر مهال الله تعالی ته رجوع وکړئ او لمونځ اداء کړئ. الله تعالی ته عاجزي وکړئ او د الله تعالی نه غوښتنې وکړئ.

۱۰- د غم، تکلیف په حالت کې یا جیل نه د تللو په حالت کې دا دعاء ډېره ولوله: (لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ). دا دعاء یونس علیه السلام فرمایلې وه د ماهي په ګېډه کې.

۱۱- که کله الله جل جلاله مه کړه د ژوندانه په مشکلاتو کې داسې راګیر شئ چې ژوندون ګران شي او غمونه، تکلیفونه داسې شکل اختیار کړي

چې تاسې ته ژوند عذاب ښکاري بيا هم د مرګ هيله مه کوه او دا دعاء وکړه:

اللهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي.

ژباړه: يا الله تر څو چې زما ژوندي پاتې کيدل ښه وي ژوندی مې وساتې او که کله زما له پاره مرګ غوره وي نو مرګ را په برخه کړې.

۱۲- کله چې يو څوک مصيبت زده انسان وګوري يا ګوډ يا ړوند نو دا دعاء ولوله.

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ، وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا.

ژباړه: حمدونه هغې ذات لره دي چې زه يې د مصيبت نه ساتلی يم په کوم کې چې ته اخته يې او په خپلو ډېرو مخلوقاتو يې ماته غوره والی رابخښلی دی.

## د سفر اداب

۱- سفر ته په داسې وخت کې روانيدل چې د لمونځونو فوت کيدل را نه شي. رسول الله صلی الله عليه وسلم به د پنجشنبې ورځ د سفر له پاره مناسبه ګڼله.

۲- که امکان لرې نو خان ته سفر مه کوه يو دوه ملګري پيداکړه چې درې نفره شي ځکه چې په سفر کې د مختلفو ستونزو پيدا کيدو امکان شته.

۳- يوه ښځه بايد ځانته سفر ونکړي ضرور بايد خپل محرم ولري يا بل نارينه چې د دې تلل ورسره جايز وي، حديث کې راځي کومه ښځه چې په الله او رسول ايمان لري نو دا ورته جائز نه دي چې درې ورځې يا د دې زيات ځانته سفر وکړي خو افسوس په دې چې نن ډېرې ښځې ځانته خارجي سفرونه کوي او هيڅ نارينه ورسره نه وي.

۴- په سفر کې د ملګري حق ساتل ضروري دي، ځکه په سفر کې زیات خلک بې صبره وي نو بد اخلاقي ورنه کېږي نو احتیاط پکار دی او د هر چا حق اداء کول مهم وي.

۵- سفر ته چې کله روانیږې نو دوه رکعته لمونځ وکړه او چې کله راشې نو بیا هم دوه رکعته وکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله د سفر نه راغی نو دوه رکعته لمونځ به یې کولو.

٦- په سفر د روانیدلو پر مهال په موټر یا طیاره کې د ختلو په وخت دا دعاء ووایه:

سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ (۱۳) وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ ، اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى، اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا، وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ، وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ، وَالْوَلَدِ وَالْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْنِ، وَدَعْوَةِ الْمَظْلُومِ. ترمذي

ژباړه: پاکي ده هغه ذات لره چې تابع کړي یې ده دا سورلۍ مونږ له پاره او نه یو مونږ دې لره تابع کوونکي او بېشکه موږ خپل رب ته راګرځیدونکي یو.

یا الله مونږ غواړو ستا نه په سفر زمونږ کې چې دا د نیکۍ او تقوا او هغه عمل چې ته پرې راضي کېږي. یا الله اسان کړي مونږ ته دا سفر او لنډ کړې مونږ ته د دې لیري والی، یا الله ته ملګری یې زمونږ په سفر کې او پاتې کیدونکی زمونږ په اهل کور کې، یا الله زه پناه غواړم د تکلیف د سفر نه او د خفګان د شکل نه او د بد راګرځیدو نه په مال او اهل کې.

۷- د شپې چې چیرته هم پاتې کېدل غواړې نو یو محفوظ ځای شپه تیره کړه چې د غلو او بد اخلاقه خلکو او وحشي ځناورو نه په امن کې یې.

۸- په سفر کې د خپل هدف رسېدو نه وروسته هیڅ نور مه پاتې کیږه او هسې بې خایه چکرې مه وهه بس خپل کور ته راځه.

۹- د سفر نه چې کله هم کور ته راځې نو خپل کور ته خبر ورکړه چې زه درځم او بې د خبر ورکولو د شپې مه ورځه او چې کله هم خپل کور ته ورشې نو اول په جومات کې یو دوه رکعته لمونځ وکړه او بیا کور ته لاړ شه.

۱۰- کله چې سفر کوئ نو د خپلو ملګرو نه یو کس ضرور خپل مشر مقرر کړئ چې دا یو سنت عمل دی.

۱۱- په سفر چې وځې نو د سفر ضروریات له ځان سره واخله. لکه د ژمې د یخنۍ د دفع کولو وسایل وغیره.

۱۲- کله چې څوک رخصتوئ او هغه کس په سفر ځي نو دا دعاء ورته وکړئ:

أستودع الله دینک و امانتک وخواتیم عملک.

ژباړه: سپارم تاسو هغه الله تعالی ته چې نه ضایع کېږي امانتونه د هغه.

## د ویده کېدلو او ویښېدلو اداب

۱- کله چې ماښام داخلېږي نو خپل کوچنیان کور ته داخل کړئ او دباندې یې مه پرېږدئ.

۲- د ماښام د راتلو پر مهال دا دعاء ولوله:

(اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نموت وإليك المصير)

ژباړه: یا الله مونږ ستا په قدرت بیګاه کوو او ستا په قدرت مونږ سبا کوو او ستا په قدرت مونږ ژوند تېروو او ستا په قدرت مونږ مړه کېږو او ستا طرف ته زمونږ در ګرځیدل دي.

۳- د ماسخوتن د لمانځه نه مخکې مه ویده کېږه، ځکه چې بیا درنه د ماسخوتن لمونځ په جماعت سره فوت کېږي او له ستر خیر نه به محروم شي.

۴- د شپې د راتللو سره سم په کور کې رڼا ولګوئ.

۵- د ماسخوتن د لمانځه پسې فوراً ویده شه او وختې پاڅیږه علامه ابن القیم رحمه الله د وختې خوب کولو ډېر فوائد ذکر کړي. حو افسوس په دې چې زمونږ عام خلک اوس په ترکیي او هندي فلمونو او سریالونو اخته شوي او د شپې ناوخته پورې ناست وي د شپې عبادت یې هم نه وي او سهار لمونځ غالباً ورنه پاتې وي.

۶- د قران کریم د ځینو ایاتونو نه معلومېږي چې د شپې په خوب کې سکون او راحت دی.

(أَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا اللَّيْلَ لِيَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا)

۷- د ډېرو پستو توشکونو، بسترو او اسفنجونو شوق مه کوه، بلکې ساده او عادي ژوند سره مينه کوه پدې هکله د سلفو صالحينو تاريخ ولوله.

۸- کوشش وکړه چې په حالت د اودس کې ويده شې او مسواک ووهې او بيا ښه پاک ويده شي.

۹- د خوب کولو نه مخکې د خپل کور دروازه بنده کړه او د خوراک او څښاک لوښي ووينځه، برق وغيره هم ګل کړه او که اور بل وي هغه هم مړ کړه.

۱۰- د شپې د خوب نه مخکې خپل څنګ کې ځينې شيان کېږده لکه: يوه پياله د اوبو، يو کوټک، د رڼا له پاره يوه وسيله او مسواک او که چېرته ميلمه وي نو د بيت الخلاء معلومات هم وکړه.

۱۱- د خوب نه د پورته کېدلو پر مهال خپلې ښې سمدستې بوټانو، څپلو وغيره ته مه ننباسه، بلکې ښه يې وګوره چې څه پکې نه وي او که حامې اغوندي نو ښه يې وڅنډه او بيا يې واغونده او د ويده کېدو نه مخکې خپل د جيب سامان خپل څنګ کې کېږده.

۱۲- د ويده کېدو نه مخکې خپله بستره وڅنډه او بيا ويده شه که د شپې څه ضرورت ته پاځيدې او بيا راشې نو بستره وڅنډه.

۱۳- د ويده کېدلو نه مخکې (أذکار فاطميه) ضرور ولوله چې هغه (سبحان الله) ويل ۳۳ خله. (الحمد لله) ويل ۳۳ خله او (الله اکبر) ويل ۳۳ خله. همدارنګه اية الکرسي ويل يو خل. د قران کريم اخري سورتونه لوستل. او نور هم ډېر اذکار په احاديثو کې نقل دي، دا ټول ولوله او بيا دي په لاسونو چوپ کړه او لاسونه دې په ټول بدن راکاږه او بيا په ښي طرف ويده شه خو ټوله شپه په ښي طرف خوب لازم نه دی بلکې شروع د خوب د ښي طرف نه سنت دی.

۱۴- د ویده کېدلو له پاره داسې ځای انتخاب کړه چې تازه هوا ولري په ډېرو بندو کوټو کې مه خمله چې هوا یې خرابه وي.
۱۵- د ویده کېدلو پر مهال خوله مه پټوه، تازه هوا بندېږي او روغتیا ته نقصان دی.

۱٦- د یو تعمیر یا د کوټې په سر همداسې مه ویده کېږه چې پنایي ونه لري یا کټاره ونه لری او چې کله په تیاره کې ښکته کېږي نو رڼا ضرور ولګوه.

۱۷- د شپې د لمونځونو سره ځانونه عادت کړئ او ټول هغه وسائل پکار واچوئ چې ځنګه یو څوک تهجد ګذار کیدلی شي او په همدې عمل دوام وکړه دنیا او اخرت به دې روښانه شي.
۱۸- د خوب نه د ویښېدلو پر مهال دا دعاء ولوله:
«الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ» بخاری.
ژباړه: حمد هغه الله تعالی لره دی چې را ژوندي یې کړو مونږ وروسته د مرګ(خوب) نه او هغه طرف ته زمونږ ور پورته کیدل دي.
۱۹- که غلط خوب وګورې هیچاته یې مه وایه او که ښایسته خوب وګورې نو یو ښه عالم او دوست ته دې ووایه او د خان نه به خوب نه جوړوي.
عبدالله ابن عباس رضي الله عنه وایي: څوک چې د ځانه خوب جوړوي نو الله تعالی به سزا ورکړي.
۲۰- که ممکنه وه نو ځانته کوټه کې مه ویده کېږه، یو ملګری پیداکړه ځان سره.

## د جامو اداب

۱- د عزت او شرافت جامې اغوندل چې ټول بدن دې په کې پټ وي او ظاهري ښکلا هم ولري.

۲- د جامو اغوستلو په وخت کې دا فکر وکړه چې دا جامه هغه نعمت دی چې دا فقط الله تعالی د انسانانو له پاره غوره کړې او د خپل رب شکر اداء کړه.

۳- همېشه د تقوا جامې اغونده چې دا په باطني تقوا او ظاهري دواړو باندې دلیل دی، داسې جامې مه اغونده چې د شریعت مخالفت پکې وي یا د ښځو مشابهت پکې وي.

۴- د نوو جامو اغوستلو پر مهال د رب شکر اداء کړه او دا دعاء ووایه:

اللهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ، أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ، أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ.

ژباړه: یا الله تا راته جامه را واغوستله او تا لره صفتونه د کمال دي. زه ستا نه غواړم خیر د دې جامې او هغه خیر چې جامه ورته جوړه ده او پناه غواړم د شر د دې جامې نه او د هغه شر نه چې دا جامه ورته جوړه ده.

۵- په عامو حالاتو کې د جامو بدلولو پر مهال بیا دا دعاء ولوله:

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ.

ژباړه: حمدونه هغه ذات لره دي چې ماته یې را واغوستله دا جامه او را یې کړه ماته بغیر د طاقت زما نه.

٦- د جامو اغوستلو پر مهال همېشه د ښې طرف خیال ساتل پکار دي که قمیص وي یا کورتی وي او یا بل څه.

۷- جامې چې کله هم اغوندې نو يو ځل وځنډه په دې خاطر چې څه مضره حشره پکې نه وي.

۸- سپينې جامې اغونده دا غوره لباس دی په يو حديث کې راځي چې تاسې سپينې جامې واغوندئ او مړو ته ترې کفن هم ورکړئ.

۹- د وريښمو جامې اغوستل د نارينه له پاره جائز نه دي دا فقط ښځينه اچولی شي، رسول الله صلی الله عليه وسلم خينې صحابه کرامو ته اجازه کړې وه نو هغه هم د ضرورت صورت و، چې د هغوی په وجود ښارخ و.

۱۰- ښځې دې ډېرې نرۍ جامې نه اغوندي چې بدن يې ورنه ښکاره شي او نه دې داسې جامه اغوندي چې د نارينه سره يې مشابهت راشي.

۱۱- نارينه به د ښځو جامې نه اغوندي حديث شريف کې راځي: لعنت دې وي په هغه چا چې د ښځو سره مشابهت کوي او په هغه ښځو دې هم لعنت وي چې د نارينه و سره مشابهت کوي.

۱۲- زنانه به په سر داسې نری کاچ نه اچوي چې ويښتان يې معلوم شي خاصکر د لمانځه په حالت کې.

۱۳- جامه همېشه متوسطه اغونده، مه ډېره اوچته چې نور خلک درته بيا سپک ښکاري او نه ډېره ادنی. بلکې تل د خپل توان موافق جامه اغونده.

۱۴- په جامه اغوستلو کې همېشه خپل ظاهر ښه برابرول داسې نه چې يوه پياځه دې پورته وي او بله ښکته او ويښتان دې ګډوډ وي او يوه څپلۍ دې وي او بله نه وي خلاصه دا ده چې د خپل اقتصاد موافق ځان جوړول ضروری دي.

۱۵- د خالص سور رنګ جامې او يا داسې شوخ رنګ وي چې خلک ورته ډېر متوجه کېږی نو د داسې شهرت لباس نه هم ځان وساته.

۱٦- تل با وقاره او ساده جامې اغونده او تل په جامه د خپل طاقت برابر لګښت کوه.

۱۷- د الله تعالی د نعمت شکر اداء کول دا هم دي چې یو بل چاته لباس واخله او په جامو یې پټ کړه، په دې به هم الله تعالی اجر درکړي.

۱۸- همېشه لوڅ سر مه ګرځه یو څه په سر اچوه که دسمال وي او که پګړۍ او که خولۍ. د سلفو صالحینو دا عادت نه ؤ چې همېشه به لوڅ سر ګرځېدل، په لوڅ سر ګرځېدلو کې عزت او وقار نشته دی.

## د لارې اداب

۱- په لاره درمیانه مزل کول دومره تیز نه تلل چې څوک دربانديې د لیوني ګمان وکړي او دومره په قلاره تلل هم نه چې څوک دربانديې د مریض ګمان وکړي.

۲- په تللو کې هر جانب ته لیدل پکار نه دي بلکې خپله لاره لیدل او په هغې تلل د عقلمندو کار دی.

۳- په عاجزۍ سره تلل او وقار نه کار اخستل او د متکبرانو او مغرورو خلکو تلل نه کول.

۴- تل په څپلۍ یا بوټانو کې تلل خو که یوه ورکه شي یا څیرې شي نو بیا په یوه کې تلل مه کوه او کله کله بې د څپلیو نه تلل هم کوه.

۵- د مزل په حالت کې خپلې جامې راټولې کړه چې د چټلتیا نه یې وساتئ او همېشه خپلې پیاڅې پورته ساته.

٦- په تللو کې هیڅ وخت په خپلو ملګرو اوچتوالی مه کوه بلکې د محبت ژوند ورسره وکړه.

۷- د لارې په تللو کې خپل نظر ساته او هغه ځاته مه ګوره چې لیدل ورته جائز نه وي.

۸- تکلیف رسوونکي شیان د لارې نه لیرې کړه.

۹- په لاره کې په هر چا سلام واچوه او د هر چا سلام ته ځواب ووایه.

۱۰- نابلده خلکو ته لاره وښایه او خیرخواه اوسه.

۱۱- د مصیبت والا خلکو سره مرسته وکړه.

۱۲- په لاره همېشه د نیکانو خلکو سره ځه او د بد اخلاقه خلکو نه ځان وژغوره.

۱۳- د پردو ښځو سره شریک تلل مه کوه بلکې جدا ورنه ځه.

۱۴- ښځینه طبقه که د ضرورت په بنا چرته ځي نو یوه ساده چادري پرې لازم ده چې ټول بدن یې پټ وي او د موجوده نقابونو د استعمال نه دې ځان وساتي.

۱۵- ښځینه دې داسې لباس نه اچوي چې په تللو کې شرنګاری کوي یا داسې بوټان استعمالوي چې خلک یې په تللو خبرېږي.

۱۶- ښځینه چې هر چیرته ځي نو خوشبویي به نه استعمالوي.

۱۷- په لاره چې کله ځئ نو په ښي طرف ځئ.

۱۸- کله هم چې بازار ته ځئ نو لاندې دعاء ضرور ولولئ:

لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.

ژباړه: نشته حقدار د بنده ګۍ مګر یو الله دی، نشته شریک هغه لره، هغه لره پادشاهي ده او هغه لره حمدونه دي او هغه همېشه ژوندی دی نه مرکېږي، په لاس د هغه کې خیر دی او هغه په هر څه قادر دی.

فائده: د دې دعاء فائده دا ده چې په یو ځل ویلو سره:

- لس لکه ګناهونه معاف کېږي.
- لس لکه نیکانې لیکل کېږي.
- لس لکه درجات پرې اوچتېږي.

۱۹- په لاره هسې چپ مزل مه کوه بلکې ذکر د ځان سره کوه او (استغفر الله) او (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ) د ځان سره وایه.

۲۰- په لاره تلو راتلو کې خوراک مه کوه.

## د خوراک، څښاک اداب

۱- په خوراک کې تر ټولو مهمه دا ده چې د حلال او حرام ترمنځ فرق وشي هر څه خپلې خېټې ته اچول دا به ښه سلوک نه وي.

۲- د خوراک په شروع کې بسم الله ويل (مسند احمد) کې راځي (قولو بسم الله) ځينې علماء د خوراک په شروع کې بسم الله واجب ګڼي او يو بل روايت کې راځي (قولو بِسْمِ اللّٰهِ وَ برَکت الله) خو دا روايت ضعيف دی (عبد بن کيسان) پکې دی او دا منکر الحديث دی او مجالد هم پکې دی دا هم ضعيف دی.

بل دلته دا د تلقين په بنا نه دی ويل شوی واقعة الحال دی. يانې خوراک کوي په نوم د الله تعالی او په برکت يعنې د خوراک په شروع کې فقط (بِسْمِ اللّٰهِ) ويل سنت طريقه ده يا په قول د ځينې علماء واجب ده.

۳- په ښې لاس خوراک سنت دی، په يو لاس کې ډوډی او په بل لاس کې پياله نيول صحيح نده. ځينې مشران خلک د دې لحاظ نه کوي وايي زما ښې لاس غوړ دی ځکه په چپ لاس خوراک کوم خو دا خبره غلطه ده، مګر د عذر په حالت کې په چپ لاس خوراک جواز لري.

۴- د خپلې مخې نه خوراک کول په عامو حالاتو کې کول خو که د خپلو ملګرو سره وې نو بيا د بل د مخې نه خوراک جواز لري.

دليل ورباندې حديث د ابو هريرة رضي الله عنه دی چې امام بخاري رحمه الله نقل کړی دی: چې ابو هريرة رضي الله عنه وايي ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم لاس وليده چې په کاسه کې د کدو پسې ګرځيدلو ابو هريرة رضي الله عنه وايي د دې نه وروسته بيا زما د کدو سره مينه

پیدا شوه لکه عرب وایي(محبوب المحبوب محبوب) خلاصه د مخکې خبرې دا ده چې د خپلې مخې نه خوراک ضروري دی مګر ځینې حالاتو کې جائز دي د بل مخې نه یا ځینې علماء وایي د شنې میوې خوراک د بل د مخې نه جائز دی.

۵- خوراک ته ناسته باید په کوم شکل وي یو څو قسمه ناستې سنت دي او ځینې مکروه دي.

- د التحیات لله په شکل ناسته کول، حدیث شریف کې راځي دا د شریفانو خلکو د خوراک ناسته ده چې دا کار ځینې عرب نن هم کوي خو عام عجم په دې عمل نه کوي.
- یو زنګون ودرول او بل کت کول.
- په ښپو کیناستل او کوناټې د ځمکې نه پورته کول.
- د خوراک په حالت کې په یو لاس تکیه کول مکروه عمل دی.
- په حالت د تکیه کې خوراک مکروه دی یو نبوي حدیث په دې اړوند هم موجود دي حدیث کې راځي: لا آکل متکاء (بخاری/۵۳۹۸).

یعنې زه خوراک نه کوم په حالت د تکیه کې د تکیه علماء یو څو شکله لیکلي دي.

- چې یو لاس په ځمکه کېږدي او خوراک کوي.
- د پلتۍ په شکل خوراک کول چې دا قسم ناسته دا عام خلک کوي خاصکر هغه خلک ډېره کوي چې د هغوی وزن ډېر وي د پلتۍ ناسته په عامو حالاتو کې جائز ده، خو د خوراک په حالت کې افضله نه ده.

- علامه ابن القیم وایي په بسترو ناسته د ډوډۍ له پاره دا هم په تکیه کې داخله ده یعنې غوره دا ده چې په هواره ځمکه کښینې خوراک ته.

امام خطابي وایي په بستره ناسته د خوراک له پاره دا تکیه ده. ریاض الصالحین صـ ۲۲۷.

٦- د منځ د کاسې نه خوراک نه کول حدیث شریف کې راځي:
البرکة تنزل وسط الطعام فکلوا من حافیته ولا تاکلو وسطه.
ژباړه: برکت د خوراک په منځ کې راځي نو د غاړو نه خوراک کوي او د منځ نه یې مه کوئ.

۷- د حرص په نیت خوراک نه کول چې پردۍ ډوډۍ ده او ځان پرې ښه ډک کړه.

۸- متوسط خوراک کول یا موړوالي ته نژدې او یا د هغې نه کم خوراک کول خو اصراف په خوراک کې نه کول خو ځان مړول هم جائز دي، امام بخاري یو روایت نقل کړی: أَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا/ یعنې خوراک وکړئ تر دې چې ماړه شو.

۹- د خوراک نه مخکې لاسونه وینځل چې کله پرې ډېر وخت تیر شوی وي او یا لاسونه پاک نه وي نو وینځل یې بیا صحیح دي خو د نظافت په بناء خو چې کله لاسونه پاک وي نو بیا یې وینځل نشته دي.

۱۰- په درې ګوتو خوراک سنت دي، په څلورو او پنځو ګوتو خوراک د عملي سنت نه خلاف دی او په قاشوغه خوراک جائز دی.

۱۱- د خوراک نه وروسته خپلې ګوتې څټل دا عملي سنت دي امام مسلم رحمه الله یو روایت نقل کړی:

وعَنْ جَابِرٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِلَعْقِ الْأَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ، وَقَالَ: «إِنَّكُمْ لَا تَدْرُونَ فِي أَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ»

ژباړه: جابر رضي الله عنه وايي چې بې شکه رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کړی دی د ګوتو په څټلو باندې او د کاسې او فرمایلي يې دي چې تاسې نه پوهيږئ چې په کوم خوړاک کې برکت دی.

۱۲- په اخر کې د کاسې پاکول چې دا هم يو ادب دی او حديث کې راځي مخکې ذکر شو چې تاسې ته معلومه نه ده چې په کوم خوراک کې برکت دی.

۱۳- د خوراک نه وروسته لاسونه وينځل سنت عمل دی.

۱۴- کله چې د چا نه يوه نوړی ولوېږي هغه دې راپورته کړي او وه دې خوري.

۱۵- دسترخوان باندې خوراک سنت دی.

۱٦- په ميزونو او چوکيو خوراک حرام نه دی خو غوره طريقه هم نه ده کوشش پکار دی چې په ځمکه ناسته وشي.

۱۷- په خوراک پسې ډېرې خبرې کول صحيح نه دي چې وايي مالګه ډېره ده او کمه ده، لکه د ځينو خلکو دا عادت وي چې همېشه يې شور جوړ کړی وي.

۱۸- مستحب طريقه دا ده چې خوراک بايد درميانه وشي زيات خوراک کول او په خوراک کې اسراف کول صحيح طريقه نه ده.

۱۹- که کافر کس کله ستا خوراک وخوري دا هم جائز ده او دا د مسلمان د اخلاقو غوښتنه هم ده چې متاثره شي د اسلام نه او د مسلمانانو نه.

۲۰- کله که يو مسلمان دعوت درکړې څه خوراک ته نو قبلول يې جائز دي خو په دې شرط چې حرام نه وي او کومه بله شبهه پکې نه وي.

۲۱- په چاړه غوښه غوڅول جائز ده او په کوم اثر کې چې منع راغلې نو هغه د سند په لحاظ سره ضعیف دی.

۲۲- د خوږو شیانو خوړل مستحب دي لکه شات وغیره رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوږو شیانو سره محبت کولو او په دې کې حکمت دا دی چې تروه شیان ډېر خوړل د دې سره خوراک ډېر کېږي نو بیا په مرور د وخت سره پکې خیټه غټېږي او خواږه شیان د انسان معده نیسې نو خوراک ډېر نشي کیدلی.

۲۳- کله کله د یو خوراک صفت کول هم جائز دی، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل دي چې (سرکه ښه خوراک دی).

۲۴- په خوراک کې ډېر وخت اخیستل نه دي پکار د رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه دا وه چې هغې په تیزه خوراک کاوه(كَانَ يَأْكُلُ أَكْلًا ذَرِيعًا).

یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په تادۍ خوراک کاوه یعنې ساعتونه ساعتونه به یې پرې نه اخیستل.

۲۵- رسول الله صلی الله علیه وسلم به هوږه، پیاز وغیره نه خوړل ځکه چې د دې په خوراک بیا د انسان د خولې نه بوی ځي که پیاز وغیره پوخ شي نو بیا یې په خوراک کې کوم مشکل نشته دی او که یو څوک په داسې حالت کې پیاز وغیره وخوري چې د لمانځه وخت وي نو بیا دې جومات ته نه ځي.

۲۶- د خوراک نه وروسته د دې دعاء لوستل سنت عمل دی:

الحمد لله الذی اطعمنی هذا الطعام ورزقنیه من غیر حول مني ولاقوة.

۲۷- کله کله په جومات کې خوراک کول هم جواز لري خو چې هوټل ترې جوړ نشي.

۲۸- یو هډوکې نه په غابښ غوښه خوړل یو مستحب عمل دی.

۲۹- د ماتې ډوډۍ خوراک مستحب عمل دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم به خوښولو او په یو حدیث شریف کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:
عائشه په نورو ښځو کې داسې ده لکه ماته ډوډۍ په عامو خوراکونو باندې.
۳۰- خوراک ډېر ګرم خوړل ښه نه دي رسول الله صلی الله علیه وسلم به ډیر ګرم شی نه خوړو او د طب له نظره هم ډېر ګرم خوراک ښه نه دی.
۳۱- په اجتماعي شکل خوراک سنت دي او خیر او برکت هم پکې وي او ځانته خوراک کول جائز دي د عوامو خلکو هغه خبره غلطه ده چې وايي: هغه چاته چې څوک ځانته خوراک کوي وايي چې دا هندو دی.
۳۲- په یو لوښي کې ساه ویستل مکروهه طریقه ده.
۳۳- کله که یو چاته خادم خوراک راوړي نو بیا یې د ځان سره کینوه چې خوراک وکړي یا ورته خوراک ورکړه.
۳٤- د شپې د غوړو لاسونو سره مه ویده کېږه لاسونه د خوراک نه وروسته وینځل سنت عمل دی، مسواک استعمال کړه او بیا ویده شه.
۳۵- میلمه دې چې کله راشي نو خوراک ورته نژدې کوه او غږ پرې کوه چې خوراک کوه او رانژدې شه.
۳٦- په ولاړه خوراک مه کوه کینه ورته.
۳۷- د زیتونو د تیلو استعمال مستحب دی.
۳۸- د شېدو څکل مستحب دي.
۳۹- ولږه او درواغ مه جمع کوه لکه ځینو خلکو ډوډۍ نه وي خوړلې او ښه وږی وي بیا هم وايي مونږ ډوډۍ خوړلې ده. د دې نه په حدیث کې منع راغلې ده، حدیث کې راځي:
(ولا یجوز ان یجمع بین الکذب والجوع)

۴۰- د ولړې د حالت نه پناه غوښتل جائز دي.

۴۱- په خوراک کې د ګاونډيانو برخه ضرور ورکوه.

۴۲- درې ورځې ميلمه ته خوراک مستحب دی بيا په څلورمه ورځ عادي خوراک ورکول صحيح دي.

۴۳- په کوم دسترخان چې شراب وڅکل شي هلته خوراک مه کوه.

۴۴- ځينې حيوانات نجاسات خوري او د انسانانو ګنده ګي خوري د داسې غوښې د خوراک نه ځان وساته، همدارنګه د داسې حيوان غوښه او شيدې دواړه خوراک جائز نه دي.

۴۵- د فارمي چرګانو خوراک جائز دی خو ځان ساتل ورنه غوره دي ځکه چې دا په وينه غټيږي او بهيدونکي وينه حرامه ده خو بيا هم حرام ويل ورته صحيح نه دي. (مبشر احمد ربانی) په نوم يو ښه عالم دی او هغې په فارمي چرګانو يو کتاب ليکلی دی او دا يې پکې ثابته کړې چې د فارمي چرګانو خوراک جائز دی، فارمي چرګان په ۳۵ ورځو کې غټيږي او دا نور کورني چرګان په شپږ مياشتو کې غټيږي.

۴۶- د کافرانو په هوټلونو کې ځان د خوراک نه ساتل په کار دي ځکه په نبوي احاديثو کې د کافرانو په لوښو کې د خوراک نه منع راغلې ده، که بيا ضرورت پيدا شو نو خپل لوښي پيداکړه.

۴۷- مچ چې کله په اوبو يا چاى کې ولوېږي نو هغه په کې ښه ډوب کړه او بيا يې ګذار کړه بيا اوبه يا چاى څکلی شي په تا څکل ضروري نه دي خو د مچ ډبول ضروري دي.

۴۸- د خوراک نه وروسته لاس په اوبو وينځل سنت عمل دی او يا په کوه دسمال وچول.

۴۹- ځینې خلک په ډوډۍ لاس پاکوي دا کار غلط دی سره د دې چې وايي زه خو يې بيا خورم، خو دا ښه عمل نه دی د خلکو په نزد ښه نه معلومېږي.

۵۰- اوبه په درې ساګانو څکل چې دا يو سنت عمل دی.

طب والا وايي څوک چې په يوه ساه اوبه څکي نو د (شرقه) په نوم مريضتيا باندې هغه کس اخته کېدلی شي او په يوه ساه اوبه څکل هم جائز دي چې څوک لږې څکي خو ډيرې په يوه ساه ښې نه دي.

۵۱- غټ لوښی چې د اوبو نه ډک وي يو دم يې په سر را اړول صحيح طريقه نه ده.

۵۲- اوبه په ناسته څکل په کار دي او همدارنګه خوراک، خو د زمزم اوبه په ولاړه او ناسته په دواړو طريقو جائز دي او ځينې علماء وايي چې زمزم په ولاړه څکل په کار دي ځکه چې دا با برکته اوبه دي چې وجود کې زر خورې شي او عامې اوبه بيا په ناسته غوره دي.

۵۳- (د کرع) په شکل اوبه څکل هم د ضرورت په وخت کې جائز دي(کرع) دې ته وايي چې اوبو ته څملي او خوله پرې کېږدي.

۵۴- خوړې اوبه څکل مستحب دي د رسول الله صلی الله عليه وسلم له پاره به د ليرې ځای نه خوږې اوبه راوړلی شوې.

۵۵- په يو مجلس کې بايد اوبه د ښې طرف نه شروع شي د دې د حديث په بنا چې (الأيمن فالايمن) په يو مجلس کې په چپ طرف ابوبکر او عمر رضي الله عنهما ناست و او په ښې طرف کې يو بانډه چې ناست ؤ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل چې اوبه اول ښې طرف والا ته ورکړئ.

۵۶- د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو کې خوراک نه دی پکار.

۵۷- د شپې له خوا د لوښو سر پټول مستحب دي په یو حدیث کې راځي چې د کال په یوه شپه کې اوبا راځي نو د لوښو سر پټول ضرور دي.

۵۸- د کجورو خوراک مستحب دی.

۵۹- بې دعوته د چا خوراک ته ورتلل جائز نه دي.

٦۰- کوم خادم چې یو مجلس ته اوبه راوړي نو په کار ده چې هغه یې په اخر کې وڅښي. (ساق.القوم اخرهم شربا)

٦۱- یو چاته په خوراک کې ډیر تکلفات په کار نه دي بس اعتدال په هر څه کې ضروري دی.

٦۲- کله چې د یو دیګ نه سر پورته کړې نو همدسې لوڅ یې بیا مه پرېږده.

٦۳- د کوم هډوکې نه چې خوراک وکړې هغه بیا په کاسه کې مه اچوه.

٦٤- په خوراک کې ایثار کوه یعني په بل باندې خوراک کوه، خو داسې چا باندې خوراک کوئ چې عقیده او عمل یې د قران او سنت سره موافق وي.

٦٥- په یو مجلس کې چې خوراک کېښودل شي په کار ده چې اول د هغې خوراک مشر کس شروع کړي چې دلیل پرې حدیث د حذیفه رضي الله عنه دی.

٦٦- د یو خوراک تحقیق کول او بیا د هغې خوړل د هر چا خوراک خوړل او د حلال او حرام تمیز نه کول دا سم کار نه دی.

٦۷- د پوخ شوي خوراک نه وروسته اودس مستحب دي او چې څوک شېدې وڅکي نو بیا خوله وینځل سنت عمل دی.

٦٨- په پردي کور کې د خوراک کولو نه وروسته ډېر نه ایسارېدل داسې نه چې هلته بالښت ته پوخ تکیه شي او د کور والا باندې بوج وي او ته بې پروایي کوې نو داسې غفلت مناسب نه دی.
٦٩- د خوراک په حالت کې بوټان یا څپلۍ ویستل غوره طریقه ده اګر که د څپلو د ویستلو په هکله ټول روایات ضعیف دي.
٧٠- کوشش کوئ چې خپل خوراک په متقیانو خلکو وخورئ.
٧١- د خوراک په حالت کې د فائدې خبرې کول جائز دي او هسې چپ کېناستل غوره طریقه ګڼل صحیح نه ده.
٧٢- د رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه دا وه چې د غلامانو، بانډیچیانو سره یې ناسته کوله او هم یې ورسره خوراک کولو.
٧٣- ابن السني په (عمل الیوم واللیلة) کې یو روایت نقل کړی چې د خوراک نه وروسته عبادت کوه، اګر که دغه روایت ضعیف دی خو د عامو نصوصو نه معلومېږي چې کول یې په کار دي.
٧٤- په طعام(خوراک) شکر ویستل ضروري دي الحمدلله ویل پرې پکار دي او د نعمت په مقابل کې عبادت کول پکار دي.
٧٥- د خوراک په حالت کې تلویزون ته لیدل دا ناشکري ده د الله تعالی د نعمت.
٧٦- د خوراک په شروع کې بسم الله ویل سنت دي خو که د چا نه هېره شي نو بیا (بِسْمِ اللّهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ)ووایي.
٧٧- خوراک په ښي لاس سنت دي خو د ضرورت پر مهال په چپ لاس هم جائز ده، مثلاً که د چا ښي لاس نه وي.
٧٨- دخوراک په حالت کې ډوډۍ خیري کول او هسې ګذارول سمه طریقه نه ده.

۷۹- ډېر گرم او سوزیدلی خوراک مه خوره رسول الله صلی الله علیه وسلم به گرم شی نه خوړو.

۸۰- د خوراک په اخر کې د کاسې پاکول سنت دي، که شوروا وغیره وي نو هغه وڅکه او که بل څه وي نو هغه وخوره.

۸۱- میلمه ته خوراک ور نژدې کول او په هغې غړ کول چې خوراک کوه را نژدې شه.

۸۲- عوامو کې دا خبره مشهوره ده چې که څوک خوراک کوي نو سلام به پرې نه اچوې دا خبره غلطه ده، سلام اچول پرې جائز دي او شرعاً د دې منع نه ده راغلې.

## د مجلس اداب

۱- تل د ښو خلکو سره ناسته او مجلس کوه.
۲- تل په مجلس کې روښانه تندي سره کېنه او د هر چا خبره اوره او مغروره مه کېنه.
۳- کوښښ وکړه چې مجلس باید د الله تعالی د یادونې خالي نه وي او بې فائدې خبرې په کې نه وي.
٤- په مجلس کې چې چېرته ځای وي همه‌لته کېنه او د خلکو د تکلیف سبب مه جوړېږه.
٥- د مجلس نه یو کس پاڅول او هلته بل کېنول یو غلط عادت دی هر انسان د احترام وړ دی.
٦- که مجلس د دائرې په شکل ناست وي نو ته د هغې په منځ کې مه کېنه، د دې نه په حدیث شریف کې منع راغلې او دا کس هم ډېر بد ښکاره کېږي.
۷- که د مجلس نه یو څوک د ضرورت په خاطر پاڅي نو د هغې په ځای مه کېنه مګر هله چې هغه کس لاړ شي او بیا نه راځي.
۸- که دوه نفر سره په مجلس کې نژدې وي نو د هغوی په منځ کې مه کېنه او هغوی مه جدا کوه.
۹- دا کوښښ هر وخت مه کوه چې همېشه ته مشر ته نژدې کېنې بلکې کله چې راغلې او کوم ځای خالي و همه‌لته کېنه.
۱۰- مجلس ته د یو چا راتلل او هغې ته ټول درېدل او سلوټ کول صحیح نه دي بلکې د یو چا د احترام په خاطر پاڅېدل به جائز وي، په دې شرط چې دې کس کې په دې عمل تکبر نه رامنځته کېږي او هغه چاته به هم نه پاځي چې هغه امر کوي چې ماته به پاځېږئ.

۱۱- په مجلس کې دې دوه نفره په خپلو کې پټې پټې خبرې نه کوي ځکه نور ګډونوال د مجلس به وايي چې ګوره دوی موږ د مجلس مکمل حقدار نه ګڼي او زړه کې به يې دا شک پيداکېږي چې دوی زموږ په اړه خبرې کوي.

۱۲- په مجلس کې بايد يو کس خبرې وکړي او نور ورته غوږ کېږدي د مجلس ټول ګډون وال بايد په يو دم خبرې ونکړي چې هسې شور جوړ شي او د هر چا خبره بايد واورېدل شي.

۱۳- د يو مجلس د راز خبره بل مجلس ته مه وړه بلکې د راز خبره د هر چا وساته او چغلخوري کول ښه عادت نه دی.

۱٤- په مجلس کې چې کومه موضوع شروع وي نو مناسب ده چې ټولې خبرې بايد د موضوع په اړوند وشي بله موضوع پکې بايد داخله نه شي تر دې چې دا موضوع حل شوي نه وي.

۱۵- د مجلس مشر ته ضروري ده چې د مسائلو د خبرو اترو پر وخت د مجلس هر طرف ته وګوري تر څو ټول ګډون وال ځان شريک وبولي او په مجلس کې خلل رامنځ ته نه شي.

۱٦- د مجلس منځ ته ښېپې غزول ښه کار نه دی بلکې دا د مجلس د خلکو بې ادبي ده، په عاجزۍ او وقار سره کېنه په دې ښه ښکاره کېږې.

۱۷- په مجلس کې نسوار مه اچوه او مه سګرټ څکه، ځينې خلک وايي که ستا اجازه وي نو دا سګرټ به وڅکم مناسب ده چې بايد دې ته ووېل شي چې نه ورور جانه اجازه نشته د ګناه په کار کې مونږ چاته اجازه نه ورکوو، موږ او تاسې بايد هغه څه ته ترجيح ورکړو چې الله تعالی پرې راضي شي، د مخلوق رضا هغه وخت صحيح ده چې د اسلامي شريعت سره برابره وي.

۱۸- په مجلس کې یو بل ته بد القاب یا کنځلې کول یا فحش کلمات ویل، ټول غلط عادتونه دي مونږ او تاسې باید ترې ځان وساتو.

## د سلام اداب

۱- کله هم چې د یو مسلمان سره مخ کېږئ نو سلام پرې اچوه که پیژنې یې او که نه.

۲- تل د یو مجلس شروع یا د چا سره د خبرو شروع په سلام اچولو سره کوه.

۳- په خپل کور کې وړو او غټو ته د سلام صحیحه طریقه ور زده کړه.

٤- خپل کور ته د داخلېدو پر مهال پخپل اهل او اولاد باندې سلام واچوه او سلام نه اچول په خپله ښځه څه غیرت نه دی.

۵- د سلام اچولو حکم سنت دی او جواب یې واجب دی او الفاظ یې دا دي: (السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته) او په یو روایت کې ورسره (ومغفرته) کلمه هم راغلې ده.

٦- که کافر په تا سلام واچوي نو د هغې په جواب به فقط وعلیکم وایې خو ته به په کافرو د سلام پیل نه کوې.

۷- د سلام په اچولو کې به د لاس اشاره نه کوې فقط سلام به اچوې خو که څوک لیرې وې او ستا غږ نه ورسېږي نو بیا که سلام او د لاس اشاره شریکه کړې نو دا بیا جائز ده.

۸- سلام به روان خلک په ناستو خلکو اچوي.

۹- په پردۍ زنانه سلام مه اچوه چې کله ترې فتنه رامنځته کېدله خو که یوه بوډۍ ښځه وي او سلام پرې واچوې او پوښتنه یې وکړې ان شاء الله جائز به وي.

۱۰- که په یو مجلس ورشې او هلته ټول ماشومان ناست وي نو هم سلام پرې واچوه.

۱۱- که یو څوک خپل یو انساني ضرورت ته ناست وي نو سلام پرې مه اچوه او همدارنګه په کافر، هندو، یهودي او سک باندې هم سلام مه اچوه.

۱۲- که یو جومات ته داخل شې او څوک لمونځ کوي او څوک تلاوت او څوک په کې ذکر کوي په دې ټولو سلام اچول جائز دي.

۱۳- که په یو مجلس کې خلک خوراک کوي نو په دوی هم سلام اچول شته، ځینې خلک وایي څوک چې ډوډۍ خوري نو په دوی به سلام نه اچوې وایي ځکه چې بیا یې په خولې کې کپ نښلي، دا خبره غلطه ده او سلام اچول پرې سنت دي، د ډوډۍ کپ خو څه ګرنیټ نه دی چې په خولې کې به یې انفجار وکړي دا هسې یوه خیالي خبره ده.

١٤- د یو مجلس نه تلل او بېرته مجلس ته راتلل په دواړو حالاتو کې سلام اچول سنت دي.

۱۵- ځینې خلک سلام په جواب کې وایي پخیر راغلې دا غلطي ده بلکې د سلام جواب وعلیکم السلام دی.

۱٦- د انګریزانو سلامونه اچول، مازدیګر پخیر، سحر پخیر ، ماښام پخیر، ښې چارې او داسې نور دا ټول غلط عادتونه دي د سلام خپل الفاظ ویل لازمي دي.

۱۷- ځينې خلک د سلام پر ځای وايي پخير راغلې يا ځينې فقط وايي سلامونه واخله يا ځينې وايي سلامونه قبول کړه، دې ټول الفاظو ويلو ته ضرورت نشته سلام خپل الفاظ يادول ضروري دي.
۱۸- په سلام اچولو کې هيڅ وخت بخل مه کوه دا د يو مسلمان حق وګڼه چې دا د دې مسلمان په ما حق دی چې بايد سلام پرې واچوم.
۱۹- د سلام په جواب کې فقط په وعليکم اکتفاء مه کوه بلکې جواب زياتول غوره طريقه ده او داسې ووايه: وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته.
۲۰- که يو عالم په تدريس کې مشغول وي نو هم سلام پرې اچولې شې د دې نه هم منع نه ده راغلې ځکه د سلام په عام کولو امر شوی دی.
۲۱- ځومره د درناوي کلمات وي يا روغبړ وي دا ټول جائز دي خو د سلام اچولو نه وروسته.
۲۲- که يو ځوک د اسلامي شعائرو بې حرمتي کوي يا د سنت طريقو سپکاوی کوې بدعي عقايد خپروي نو سلام اچول پرې جائز نه دي. خو که د دعوت په نيت يو ځوک ورشي نو سلام پرې واچوئ چې ستا د ښو اخلاقو نه هم متاثره شي او بيا ورته دعوت ورکړې پاکې عقيدې ته او د مسنون طريقو اهميت ته نو ان شاء الله تعالی دا به صحيح وي.
۲۳- يو خطيب چې کله هم د جمعې په ورځ خپله خطبه شروع کوي نو سنت طريقه دا ده چې اورېدونکو ته شروع په سلام وکړي.
۲٤- که يو مسلمان ورور سره په څه مسئله ستا خفګان راغلی وي نو بهترين به هغه ځوک وي چې مخکې والی په سلام اچولو وکړي او د خپل مسلمان ورور سره خبرې شروع کړي.
۲۵- کله چې د يو مجلس نه روانېږې يا په سفر باندې ځې نو بای بای مه کوه بلکې په سلام اچولو اجازه ورنه واخله او روان شه، لکه ځينې خلک لاس خوځوي او بای بای ورسره وايي دا اسلامي طريقه نه ده.

۲٦- سلام اچول په معمولي جدایی سره سنت ده، مثلاً يو څوک د مجلس نه پاڅي او لږ لاړ شي او بيا راشي نو سلام دې واچوي يا د کوټې نه ووځي او بيا راځي نو سلام دي واچوي.

## د جوماتو اداب

۱- د ځمکې په سر غوره ځمکه د جوماتونو ده نو څوک چې د جومات سره ډېره مينه لري دا به د قيامت په ورځ د عرش د سيوري لاندې وي.
۲- د جومات خدمت کول، پاک ساتل او جوړول يې دا د ايمان نښه ده.
۳- فرض لمونځ همېشه په جماعت سره اداء کوه، د اذان نه وروسته جومات ته روان شه.
٤- تل جومات ته په مينه او محبت لاړ شه، خاصکر ماسخوتن او سهار لمونځونو ته.
٥- جومات تل پاک وساتئ جارو يې کړئ چې گردونه ترې ليرې شي، گياه گانې وغيره شيان ترې لرې کړئ او جمعې په ورځ يې ضرور خوشبوی کړئ.
٦- تل جومات ته لړزيدونکي او وېرېدونکي ځئ، چې د الله تعالی لويوالی مو په زړه کې راشي او د سلام اچولو نه وروسته په ارام سره کېنه.
۷- همېشه چې جومات ته داخلېږئ نو (تحية المسجد) مه پرېږده، چې دا سنت عمل دی او ځينې علماء ورته واجب هم وايي.
۸- په جومات کې ارام کېنئ شور او غوغا پکې نه کول، د بازار نرخونه هلته نه کول، د دنيا په حالاتو تبصره نه کول يعنې سياسي بحثونه نه کول ځکه چې جومات خالص د الله تعالی د عبادت کور دی.

۹- جومات ته چې کله ماشومان راولئ نو د جومات احترام ورزده کړئ او د لمونځ په طريقه او اهميت يې پوهه کړئ.

۱۰- د جومات نه د تللو او راتللو لار مه جوړوئ، بلکې د جومات دا حق دی چې کله داخل شئ نو بايد دوه رکعته لمونځ وکړئ.

۱۱- په جومات کې د ورک شي اعلان مه کوئ. حديث شريف کې راځي که تاسې د چانه واورئ چې په جومات کې د ورک شي اعلان کوي نو تاسې ورته ووايي چې الله تعالی دې درته نه پيدا کوي.

۱۲- جومات ته چې کله هم داخليږئ نو ښي پښه مخکې کړئ او دا دعا ووايئ: (اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ) معنا يې دا ده چې: يا الله ماته د رحمت دروازې خلاصې کړه.

۱۳- جومات نه چې کله راوځئ نو چپه پښه مخکې کړه او دا دعا ووايه: (اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ) يعنې: يا الله زه ستا فضل غواړم.

۱٤- په جومات کې بايد همېشته پنځه وخته لمونځ او اذان وشي، امام او مؤذن بايد داسې خلک وي چې تقوی پکې وي او د الله تعالی نه ويرېږي.

۱۵- اذان چې کله ټول واورئ نو دا دعاء ووايئ او جومات ته لاړ شئ: (اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلوة القائمة آت محمد ن الوسيلة والفضيلة وابعثه مقاماً محمود ن الذى وعدته)

۱٦- اذان چې کله هم واورئ نو د موذن په شان کلمات ته هم ووايه مگر په حی الصلاة او په حی علی الفلاح کې: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ووايه.

۱۷- (اَلصَلوةُ خَيرٌ مِنَ النوْم) په څواب کې به هم الصلوةخير من النوم ووايي، صدقت وبررت ويل پکې صحيح نه دي په دې اړوند روايت موضوعي دی.

۱۸- د ښځو له پاره که جدا ځای موجود وي، لمانځه ته تللی شي او که نه وي نو بيا کور ورته غوره دی.

۱۹- ماشومان د جومات نه منع کول صحیح طریقه نه ده، ځینې مشران په دې ډېر غوصه کېږي چې ماشوم په جومات کې وګوري، صحیح طریقه دا ده چې ماشوم ته آداب د جومات ښودل ضروري دي خو ډېر واړه ماشومان جومات ته مه راوړئ چې بیا په کې متیازې کوي او د ماشومانو د منع کولو په اړوند چې کوم روایت دی هغه موضوعي دی چې تاسې ماشومان جوماتونو ته مه پرېږدئ ملا علي القاري په موضوعات کې نقل کړي.

۲۰- په جومات کې د مړي اعلان کول صحیح نه دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې نه منع کړې ده خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د نجاشي پادشاه د مرګ خبر صحابه کرامو ته ورکړی دی خو د اعلان نه یې منع کړې، یعنې د دواړو احادیثو تطبیق دا شو چې یو اعلان عن المیت دی چې دا جائز نه دی او بل اخبار عن المیت دی چې دا جائز دی.

۲۱- په داخل د جومات کې مړی دفن کول صحیح طریقه نه ده، ځینې خلک دا وصیت کوي چې ما به په جومات کې دفن کوي نو دا وصیت باید عملي نه شي او په کوم جومات کې چې قبر وي نو هلته لمونځ نه کېږي.

۲۲- د جومات په دیوالونو لیکل کول، ګلان رسمول، اشعار لیکل، یا محمد لیکل او داسې نور اعلانونه صحیح طریقه نه ده.

۲۳- جومات ته چې کله داخل شئ او نفل لمونځ کوئ نو د جومات یوې ستنې ته ودرېږه او لمونځ وکړه، بې د سُترې نه لمونځ مه کوه عمر رضي الله عنه یو کس ولید چې په مسجد نبوي کې د دوه ستنو په منځ کې ولاړ و او لمونځ یې کولو نو عمر رضي الله عنه هغه کس د اوګو (ولو)

ونیولو او ورته یې وویل چې دې ستن ته ودرېږه نو همېشه سترې ته ودرېږه.

۲٤- د جومات په دیوالونو کې شیشې لګول او په چت کې ګلان ځوړندول او مختلف برقونه د پړک او پړوک لګول دا ټول رواجي کارونه دي.

۲۵- کوم خلک چې هوږه یا پیاز یا بل بد بویه شی وخوري نو په کار ده چې جومات ته را نه شي ځکه په دې سره لمونځ ګذارو ته تکلیف رسېږي.

۲٦- لمونځ چې کله هم کوئ نو بوټان یا څپلۍ خپلې مخې ته مه ږدئ بلکې شاته او یا چپ طرف ته یې کېږده خو په دې شرط چې ستا په چپ طرف کې څوک نه وي، د جومات د اول صف مخې ته باید هغه د بوټانو تختې کېښنبودل شي ځینې خلک خپل بوټان وړي او په محراب کې یې ږدي دا هم غلطي ده شاته یې باید کېږدي.

۲۷- جومات ته چې کله هم داخل شي او جومات دخلکو نه ډک وي نو خپل ځان اول صف ته مه رسوه کوم ځای چې خالي وي هملته کېنه او د خلکو د تکلیف سبب مه جوړېږه.

۲۸- په جومات کې همېشه په یو ځای لمونځ مه کوه. بلکې ځایونه بدلوه ځینو خلکو امام ته مخامخ جای نماز اچولی وي او هېڅوک نه پرېږدي چې هلته ودرېږي، په یو حدیث کې ترې منع راغلې چې د اوښ په شان یو ځای مه نیسئ.

۲۹- فرض لمونځ همېشته په جومات کې کوه او سنت لمونځ همېشه په کور کې کوه کله چې نبوي اذکار ولولئ کوم چې فرض لمانځه نه بعد ویل کېږي نو بیا کور ته روان شه.

۳۰- ځینې خلکو په جومات کې پلاستیکي خولۍ ګانې ایښې وي په دې خاطر چې لمونځ ګذار یې په سر کړي دا طریقه صحیح نه ده، ځکه په همدې خولۍ ګانو مونږ او تاسې په بل ځای کې شرمیږو او په جومات کې یې په سر ږدو.

۳۱- ځینې خلک په جومات کې خپله مشري کوي او هر چاته غوصه کیږي د لمانځه وخت هم په خپله مقرروي دا کار هم غلط دی دا ټول واک باید د جومات د امام سره وي.

۳۲- د جومات نه به څوک د خوراک او څکاک او خوبونو ځای نه جوړوي، بلکې دا د عبادت یو مرکز دی او دا هر څه پکې جائز دي خو د ضرورت په بناء.

۳۳- په جوماتونو کې د مړو فاتحې اخیستل او بالښتونه او توشکونه منظم کول او بیا د قران کریم سورتونه لوستل او بیا دعاء کول، دا کوم مسنون عمل نه دی او د جومات احترام هم نه دی بلکې دا یو افغاني رواج دی.

۳٤- په جوماتونو کې د جمعې په شپه په لوډسپیکر کې (تبارک الذی) سورة لوستل، دا هم سنت عمل نه دی بلکې صحیح طریقه دا ده چې دا سورت هره شپه ولوستل شي ځان سره.

۳۵- د جومات په داخل کې د چپلو او بوټانو سره ګرځېدل په قالینو او فرش دا صحیح طریقه نه ده او د نظافت خلاف عمل دی.

۳٦- جومات په غصب شوي ځمکې جوړول جائز نه دي بلکې په دې کې حلال مال لګول ضروري دي.

۳۷- د جومات په داخل کې ګنده او نجس شیان نه اچول بلکې همېشه یې د نظافت خیال ساتل.

۳۸- جومات ته چې کله هم داخلېږئ نو سلام اچوه او خاموش مه داخلېږه.

۳۹- کوشش وکړه چې په خپل حلال مال یو جومات جوړ کړې چې دا ستا له پاره صدقه جاریه ده.

٤۰- د جومات په ابادۍ کې د کافر یا مشرک شخه مال مه اخله ځکه چې جوماتونه جوړول دا فقط د مؤمنانو کار دی.

٤۱- په جومات کې لاره جوړول مناسب نه ده، په ځینو علاقو کې په جوماتونو کې لارې او سرکونه وي او خلک په کې ځي راځي د جومات شان او هیبت یې کم کړی دی.

٤۲- په جومات کې توکاڼې توکول، بلغم اچول، ویښتان پکې اچول، نوکان کټ کول او نور دا ټول د جومات د نظافت سره منافي کارونه دي.

٤۳- جومات ته باید جُنب سړی او حیض، نفاس والا ښځې داخل نه شي ځیني عوام خلک دا کار کوي چې د خپل کور جنابت په جومات کې زائله کوي جومات یې د کور سره نژدې وي نو سهار وختې جومات ته منډې وهي، صحیح طریقه دا ده چې په کور کې د غسل ویستلو له پاره ځای برابر کړي.

## د میلمستیا آداب

۱- که ته د یو چا کور ته ورځې نو خپل وس موافق یو څه ورته واخله او د هدیې په شکل یې ورته یوسه.

۲- که ته د یو چا سره میلمه کېږې نو هڅه وکړه چې د دریو ورځو نه زیاتې هلته مه تیروه، خو که کوربه ډېر اصرار کوي نو بیا ایسارېدلی شې.

۳- تل د نورو میلمانه کېږئ مه نور هم خپل کور ته رابولئ او په خلاص زړه یې قدر او درناوی وکړه.

٤- د کوربه د کارونو او مسؤولیتونو خیال هم وساته داسې نه چې ستاسې په وجه د هغې کارونه ګډوډ نه شي.

۵- د کوربه نه هر ډول غوښتنې مه کوه، بلکې څه یې چې تاسې ته تیار کړي وي په هماغې اکتفاء وکړئ.

٦- که تاسې روژه یاستئ نو کوربه ته په ډېره نرمه لهجه خبرې وکړه او عذر ورنه وغواړه چې زه روژه یم آو که خوښه دې وي نو د نفلي روژې خوراک هم جائز دي بیا به یې ونیسئ.

۷- د خوراک نه وروسته د کوربه په کور کې ډېر مه ایسارېږه او د خیر او برکت دعاء ورته وکړه.

۸- مېلمه ته درې ورځې خوراک تیارول سنت طریقه ده او په څلورمه او پنځمه ورته عادي خوراک ورکولی شې.

۹- مېلمه ته به د خپل وس موافق تیاری کوې داسې نه لکه ځینې خلک میلمه ته وایي چې زمونږ په کور کې د سبو نمبر وه او د صبر نه کار واخله، یا ورته وایي چې څه تیار وي هغه د یار وي داسې نه ده، بلکې د میلمه له پاره به خامخا یو څه د وس په اندازه تیاری کوې.

۱۰- میلمه چې کله په خپله حجره کې کېنوې او خوراک یې مخې ته کېږدې نو غږ پرې کوه چې رانژدې شه او خوراک کوه.

۱۱- میلمه چې کله کور ته راشي نو د ژمې په موسم کې ورته د ګرمولو وسائل تیار کړه او په ګرمۍ کې ورته د یخې هوا وسائل تیار کړه.

۱۲- میلمه چې کله ستا نه ځې نو لږ مزل ورسره وکړه د رخصتولو په خاطر چې دا هم د میلمه حق دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت طریقه ده.

۱۳- میلمه چې دې کله کور ته راشي نو بیا په خپل کور کې خپل ماشومان د میلمه په مخامخ مه وهه او مه چاته په غوسه کېږه.

١٤- د میلمه په مخامخ خپله ډېره غریبي او فقر مه یادوه که ته غریب هم یې نو بیا هم خپل ځان مستغني فرض کړه.

۱۵- کوشش وکړه چې میلمه ته ښه خوراک تیار کړې لکه غوښه وغیره او هغه څه ورته تیار کړه چې میلمه یې خوښوي او ژر تیارېږي.

۱٦- میلمه د شپې په حجره کې ځانته مه پرېږده، یو کس ضرور ورسره کړه، بیت الخلاء او د غسل ځای ورته وښایه.

۱۷- کله چې د میلمه د کورېه په کور کې احتلام وشي نو په کار ده چې خبر ورکړل شي او غسل وکړي او شرم دې نه کوي چې لمونځ ورنه پاتې شي او همداسې ګرځي.

## د روژې اداب

۱- د روژې له پاره پیشنمی کول، په یو حدیث شریف کې راځي: (تَسَحَّرُوا فَإِنَّ السَّحُورَ بَرَكَةٌ). یعنې تاسې پیشنمی وکړئ په دې کې برکت دی.

۲- وختې روژه ماتول یعنې چې لمر پریوزي نو فوراً روژه ماتول په یو حدیث کې راځي چې دا امت به الله تعالی په خیر لري تر هغې چې وختې روژه ماتوي، مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله وایي چې لمر پریوځي او څوک روژه نه ماتوي او په دې کې غوره والی ګوري نو دا کار د یهودو او نصاراو دی. لا يزال الناس بخير ما عجلوا الفطر - متفق عليه

۳- د روژه ماتې پر مهال دعا کول ځکه په دغه وخت کې الله تعالی دعاګانې قبلوي. ثلاثة لا ترد دعوتهم الصائم حين يفطر والإمام العادل ودعوة المظلوم

٤- روژه دار انسان باید د ټولو هغه اعمالو نه ځان وژغوري کوم چې د روژې سره منافي دي لکه غیبت، چغلخوري وغیره.

۵- په روژه کې ډېر مسواک وهل چې مسواک د (۷۰) څخه زیاتې فائدې لري او په کوم اودس کې چې مسواک ووهل شي نو (۷۰) نیکیانې زیاتېږي.

٦- د رمضان په میاشت کې د قران کریم تلاوت ډېر زیات کول په هر حرف الله تعالی (۱۰) نیکیانې ورکوي او د رمضان او قران کریم په خپلو کې یو مناسبت هم دی.

۷- د رمضان په میاشت کې باید ډېر عبادت وشي خاصکر په اخرو لسو د رمضان کې چې د لیلة القدر شپه په کې هم شتون لري.

۸- په دې میاشت کې زیاته صدقه کول د مسکینانو، فقراء او یتیمانو سره.

۹- د رمضان المبارک روژه په ډېرې پاملرنې سره ونیسئ او په معمولي مریضتیا یې مه ماتوئ.

۱۰- روژه د راتلونکې کال له پاره یو ښه قالب وګڼه او ډېر عبادت پکې وکړه او اخلاص په خپل زړه کې پیدا کړه.

۱۱- د روژې د ولږې او تندې څخه ډېر شکایتونه مه کوه بلکې دا هر څه اجر وګڼه.

۱۲- د روژې د ماتولو پر وخت دا دعاء ولوله:

«اللَّهُمَّ لَكَ صُمْتُ، وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ». رواه( مسلم)

۱۳- که ته د چا کور کې روژه ماته کړې نو دا دعاء ورته وکړه:

«أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ، وَأَكَلَ طَعَامَكُمُ الأَبْرَارُ، وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ»

۱٤- کوشش وکړه چې خلکو ته روژه ماتې ورکړې په دې کې ډېر زیات اجر دی چې دا کار عرب ډېر کوي.

۱۵- د روژې په میاشت کې په خوارک او څکاک کې ډېر اصراف په کار نه دی بلکې اعتدال مناسب دی.

۱٦- د روژې په میاشت کې باید ښځې بې له ضرورته بازار ته لاړې نه شي چې خپل قیمتي اوقات خراب نه کړي.

۱۷- سحری

## د دعاء اداب

۱- د حرام خوراک او حرام لباس نه ځان ساتل.
۲- زړه کې اخلاص پیداکول.
۳- د دعاء نه مخکې صدقه ورکول او لمونځ کول.
٤- په نیکو اعمالو وسیله نیول.
۵- د نظافت په حالت کې دعاء کول.
٦- په اوداسه سره دعاء کول.
۷- د دعاء په حالت کې قبلې ته مخ کول.
۸- د دعاء نه مخکې د دې حاجت له پاره دوه رکعته لمونځ کول.
۹- دعاء ته د التحیات لله په شان ناسته کول.
۱۰- د الله تعالی حمد ا ثناء ویل د دعاء نه مخکې.
۱۱- د دعاء نه مخکې په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود شریف ویل.
۱۲- په دعاء کې لاسونه اوچتول.
۱۳- لاسونه تر ولو پورې اوچتول.
۱٤- په دعاء کې د الله تعالی ډیر احترام او تعظیم کول.
۱۵- په ډیر تواضع او خشوع سره دعاء کول.
۱٦- د الله تعالی اسماء او صفات وسیله کول په دعاء کې.
۱۷- دعاء په ټیټ اواز کول.
۱۸- په دعاء کې په خپلې ګناه اعتراف کول.
۱۹- د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل شوي دعاګانې ویل.
۲۰- په دعاء کې عام مؤمنان نارینه او ښځې یادول.

۲۱- دعاء په یقین سره کول چې ان شاء الله دا دعاء زما قبلېږي او هیڅ شک په کې نه کول.

۲۲- په مېنه او وېرې سره دعاء کول.

۲۳- د زړه د تل نه دعاء کول او په کاملې توجه سره کول.

۲٤- په دعاء کې په الله تعالی ښه گمان کول.

۲۵- دعاء درې ځله تکرار کول.

۲٦- دعاء د قبلېدو په اوقاتو کې کول.

۲۷- د خیر په غوښتنه کې ډېره زیاته مبالغه کول او خپل فریادونه فقط الله تعالی ته کول.

۲۸- د الله تعالی د حکمت نه خلاف سوال نه کول، مثلاً چې یو کس سوال وکړي چې یا الله ما ښځه کړه.

۲۹- د غیر ممکن شي دعاء به نه کوې. او د هغه څه دعاء به هم نه کوې چې فائده په کې نه وي.

۳۰- د دعاء په اخیر کې امین ویل.

۳۱- د دعاء په قبلېدو کې به ډېره عجله نه کوې چې زما دعاء ولې قبوله نه شوه، ستا دعاء هیڅ کله نه ضائع کېږي.

۳۲- د دعاء نه وروسته به هم په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ولولې.

۳۳- په دعاء کې بخل مه کوه هر چاته دعاء ته کوه.

۳٤- دعاء سوال غوښتنه فقط د یو الله تعالی نه کوه او همدا ذات ستا له پاره کافي دی.

۳۵- د ناروا او حرامو شیانو سوال د الله تعالی نه مه کوه، د الله تعالی نه صرف د خیر غوښتنې کوه.

۳۶- دعاء د الله تعالی په نوم وکړه یا د هغه په ښائسته صفاتو نه د خدای په نوم.

۳۷- د الله تعالی په آسماء او صفاتو کې چې، کوم صفت ډېر اثر کوي ستا په زړه په هماغې وسیله نیول او سوال پرې کول.

۳۸- پرله پسې دعاء وکړئ او مه نا اُمیده کېږئ خپله عاجزي او احتیاج او ضرورتونه الله تعالی ته وړاندې کړي او هر وخت دعاء وکړي، ځکه دعاء په خپله یو مستقل عبادت دی.

۳۹- د دعاء کولو پر مهال د ظاهري ادابو نه کار واخلئ او زړه د حسد، کینې، غفلت، غلطو خیالاتو، غلطو عقایدو نه وساتئ.

۴۰- په قران کریم کې ځینې هغه دعاء گانې نقل دي چې انبیاء علیهم السلام کړې دي او قبولي شوي دي دا هم په دعاء گانو کې ولولئ په مکملې توجه سره.

۴۱- په دعاء کې د قافیه بندی نه ځان وساتی لکه ځینې خلک داسې په وزن کې دعاء کوي ته به وایي که نعت لولي نو په داسې زړو کې هیڅ اخلاص او درد نه وي.

۴۲- مور او پلار ته همېشه دعاء کوه ته په دنیا کې د مور او پلار احسانات نشې پوره کولای.

۴۳- دعاء یو عبادت دی چې په کوم ځای کې رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه صحابه کرامو اجتماعي دعاء نه وي کړي هلته به نه کېږي.

۴۴- په دعاء کې د سترگو په کونجونو کې یو طرف او بل طرف مه گوره توجه برابره کړه.

۴۵- د دعاء کولو پر مهال خارجي سوچونه او د ځان گرول پرېږده ځکه د غافل زړه دعاء الله تعالی نه قبلوي.

## د ناروغ د پوښتنې اداب

۱- د ناروغ پوښتنه ضروري وګڼئ او دا د یو مسلمان په بل مسلمان حق دی.

۲- کله چې یو مریض ته ورشئ او هغه پرنجی وکړي او الحمدلله ووايي نو ورته یرحمک الله ووایه.

۳- د ناروغ سره نژدې کېنئ او تسلي ورته ورکړئ چې ان شاء الله ته روغ جوړ یې او الله تعالی به صحت درکوي.

٤- مریض سره نژدې کېنه او دا الفاظ وربادنې (۷) ځله ولوله:

أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ.

٥- مریض ته چې ورشي نو د طبیعت حال پوښتنه ترې وکړه او د روغیدو دعاء ورته وکړه.

٦- مریض سره ډېر وخت مه کېنه او مه هلته شور او غوغاء جوړوه، خو که مریض ستا خپلوان یا ملګری وي او ستا ناسته خوښوي نو بیا ورسره کېنه.

۷- د مریض خپلوانو نه د مریض د حال پوښتنه وکړه او همدردي ورسره وکړه او که کوم کومک دي د لاسه کېږي نو ورسره یې وکړه.

۸- د نامسلمانانو ناروغانو پوښتنې ته هم لاړ شئ او په ډېره نرمه لهجه ورته دعوت ورکړئ، کېدای شي چې الله تعالی ورته هدایت په نصیب کړي، ځکه چې د مریض انسان زړه ډېر نرم وي.

۹- کله چې د ناروغ پوښتنې ته ورځئ نو کوشش وکړه چې په کور کې د بې ځایه کتلو نه ځان وساتې.

۱۰- کله چې ناروغ ته ورشي نو د هغې نه هم د ځان له پاره دعاء وغواړه او ته ورته هم دعاء وکړه.

۱۱- ناروغ ته چې ورځې نو د وخت مناسب تازه میوه ورته یوسه او ډېره به ښه دا وي چې د نقدو روپو کومک هم ورسره وکړې.

۱۲- کوشش وکړه چې سهار وخت کې د مریض پوښتنې ته ورشې ځکه چې ټوله ورځ به درته اویا زره (۷۰۰۰۰) ملائکې د ا لله نه مغفرت غواړي او که مازدیگر ورشې نو ټوله شپه به درته اویا زره(۷۰۰۰۰) ملائکې د مغفرت دعاء کوي .

۱۳- مریض ته د خفگانونو او غمونو قیصې مه کوه او مه ورته داسې څه وایه چې هغه نا امیده او مایوسه نه کړي.

۱۴- مریض ته داسې وایه چې الله تعالی دې درته شِفاء درکړي یعنې د شِفاء کلمه د شین په زیر سره تلفظ کړه او زور مه ورکوه.

## د ملاقات (لیدنې، کتنې) اداب

۱- د ملاقات پر وخت مسکا سره خپل مقابل لورې ته ښه راغلاست ویل لومړی سلام وکړئ چې د دې ډیر اجر دی.
۲- د ملاقات شروع په (السلام علیکم) باندې وکړئ.
۳- کله چې د چا لیدو ته ځئ نو پاکې جامې واغونده او ځان صفا کړه او عطر ووهه بیا لاړ شه خیرنو جامو کې مه ځه.
٤- کله چې د چا ملاقات لېدو ته ځې نو رابطه ورسره وکړه او وخت ورنه واخله بیا ورشه، داسې نه چې ستا وخت هم خراب شي او د هغې هم.
٥- د هر چا ملاقات ته چې ورځې نو د خیر خبرې وکړه، بې فایدې خبرې مه کوه.
٦- د چا کور ته چې ورځې نو دروازه یې ووهه، که اجازه یې درکړه نو ورشه او که نه نو بیا راځه.
٧- د چا کور ته د تللو پر وخت کې یو څه سوغات ورته واخله او هدیه یې کړه ورته.
٨- تل دا هېله مه کوه چې خلک دې زما ملاقاتونه کوي ته هم د خلکو ملاقاتونه وکړه.
٩- که ستا ملاقات ته یو څوک راشي او څه ضرورت لري نو کومک ورسره وکړه.
۱۰- ډېر نفر که د یو چا ملاقات ته ځئ نو یو کس متکلم مقرر کړئ او غوره او ښائسته خبرې دې وکړي.

۱۱- که د چا کور کې مو شپه راشي نو کوربه ته ډېر تکلیف مه ورکوئ او وختي ویده شئ.
۱۲- د ملاقات پر وخت وګورئ که د مقابل لورې په زیره یا مخ څه شی پروت وي نو لیرې یې کړه.
۱۳- تل په ملاقات کې خپل مقابل ته مکمل متوجې کېږئ نورو طرفونو ته مه ګوره.
١٤- په ملاقات کې چې کله د چا لاس ونیسئ نو تر دې یې مه پرېږده چې هغې درنه خپل لاس لیرې کړی نه وي.
۱۵- که په ملاقات کې یو څوک درسره ښېګڼه وکړي، نو ته هم ورسره احسان وکړه.
١٦- که د چا کور ته ورشې او دروازه ورته وټکوې(ووهې) نو بیا جدا ودرېږه او د دروازې په کونجو کې مه ګوره.

## د خبرو اترو اداب

۱- په خبرو کې تل رشتیا وایه درواغ هېڅکله مه وایه .
۲- د اړتیا په وخت، کې خبره کوه او د خیر او فائدې خبره کوه.
۳- تل خبرې په نرمۍ کوه په مسکا سره په خوږې ژبې سره.
٤- هېڅکله په کومه بده خبره ژبه مه ګنده کوه نورو ته بد مه وایه، چغلخوري او غیبت مه کوه.
۵- تل په انصاف سره خبرې کوه، که د چا صفت کوې او که رد کوې خو د انصاف نه کار واخله.
٦- نرمې او په زړه پورې او معقولې خبرې وکړئ.
۷- ښځې که کله سړو سره خبرو ته اړ شي نو سمې سیده او په کره لهجه باید خبرې وکړئ.
۸- ناپوهه خلک که ستا وخت خرابوي په خبرو کولو کې نو سلام پرې واچوه او ځه ترې.
۹- تل د مخاطب د علم موافق خبرې وکړه عوامو خلکو ته علمي خبرې مه کوه او علماء کرامو ته ساده خبرې مه کوه په علمي انداز خبرې ورسره وکړه.
۱۰- تل لنډې او جامع خبرې وکړه کوشش وکړه چې اورد مطلب په لنډو خبرو کې راونغاړې.
۱۱- هېڅکله د تملق او چاپلوسۍ خبرې ونه کړې د خپل عزت تل خیال وساتئ.

۱۲- چې دوه نفره سره په خپلو کې خبرې کوي نو د هغې منځ ته مه راځه او اجازه ورځخه واخله او بیا هلته کېنه.

۱۳- په ورو ورو او وقار سره خبرې وکړئ په تیزی او چټکتیا سره خبرې مه کوئ، مه تل ټوکې او خندا کوئ د دې سره د سړي درنښت له منځه ځي.

١٤- که څوک د کوم څه په اړوند پوښتنه کوي نو ښه د هغې سوال ته غوږ ونیسۀ او بیا ځواب ورکړئ.

١٥- که څوک تاسې ته څه وایي نو لومړی ورته دا ونه وایاست چې ماته معلومه ده کېدای شي چې د هغه له ویلو سره کومه نوې خبره هم ترې واورئ، یا د کوم ځانګړي خبرې اغیز مو په زړه شي، ځکه چې له خبرې سره سره د خبرې کوونکي اخلاص او نیکي هم اغیزه کوي.

١٦- له هر چا سره چې خبرې کوئ د هغه عمر رتبه او هغه سره خپلې اړیکې په نظر کې ولرئ، خبرې ورسره وکړئ له مور، پلار، استاد او نورو لویانو سره د ملګرو په څېر خبرې اترې مه کوئ، همدارنګه چې له کوچنیانو سره خبرې کوئ نو خپل ځان ته په خیال کولو سره د مهربانۍ او شفقت او لویانو خبرې وکړئ.

۱۷- د خبرو اترو پر وخت اشارې مه کوئ چې نور بدګمانه شي او خامخا یې په زړونو کې شک پیدا شي د نورو خبرې په چوپتیا سره واورئ او د چا خبرو ته پټ مه کېنئ(غوږ ورته مه نسئ).

۱۸- د نورو خبرو زیاتې واورئ او پخپله خبرې وکړئ او چې کومه د راز خبره وي هغه چاته بیان نه کړي.

۱۹- د خبرو اترو پر وخت خپل مخاطب ته ګوره او یو طرف او بل طرف ته مه ګوره.

۲۰- د رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه په خبرو کې دا ده چې جدا، جدا خبرې به یې کولې او یوه خبره به یې درې ځله کوله.

۲۱- په خبرو کولو کې د چا سپکاوئ مه کوه او مه څوک حقیر گڼه بلکې هر خپل مخاطب قدرمند وبوله.

۲۲- خبره به د یو سبب په بناء کوې چې یا به په دې خبرو سره یوه فایده راځي او یا به ورسره څه ضرر دفع کېږي.

۲۳- خبره به د خبرو کولو په ځای کې کوې نه بې ځایه یعنې چې ضرورت ورته نه وي نو نه به یې کوې.

۲٤- چې څومره خبرو ته ضرورت وي نو په هماغه مقدار خبرې کولی شې زیادت به نه کوې.

۲۵- د خبرو کولو له پاره الفاظ انتخاب کړه چې زه باید په خبرو کولو کې کوم الفاظ وکاروم او د بې مفهومه الفاظو نه باید ځان وساتم.

## د مور او پلار اداب

۱- د مور او پلار سره ښه رویه کول د دنیا او اخرت بریالیتوب او سعادت دی.

۲- همېشه د مور او پلار شکر کوونکی اوسه هیڅ وخت د مور او پلار احسانات مه هېروه.

۳- تل د مور او پلار د خوشحاله کولو کوشش کوه او هیڅ وخت یې مخالفت مه کوه.

٤- دزړه په مېنه د مور او پلار خدمت وکړه او دا خپل سعادت وګڼه.

٥- د مور او پلار ادب او درناوی وکړئ او کومه داسې خبره یا حرکت مه کوئ چې د هغوی د درناوي پر خلاف وي.

٦- د مور او پلار سره مینه وکړئ هغوی د خپل ځان د اجر او سعادت او د اخرت د نیکبختۍ لامل وګڼئ.

۷- مور او پلار د خپل مال خاوندان وګڼئ او په خلاص مټ لګښت پرې وکړئ.

۸- د مور او پلار په مخامخ د عاجزۍ نه کار واخلئ او د هغوی مخې ته هیڅ تکبر مه کوئ.

۹- مور او پلار ته په مجلس کې په نوم غږ مه کوه، بلکې په یو صفتي نوم سره یې را وبله یا که تاته هره کلمه معلومه وي چې د احترام نه ډکه وي هغه ورته ووایه.

۱۰- په لاره چې کله ځئ نو د مور او پلار نه مخکې مه ځه مگر د ضرورت په حالت کې یا د هغوی په اجازه.
۱۱- د مور او پلار د مرگ نه وروسته هغوی د خپلو نیکو دعاگانو نه مه بې برخې کوئ، هر وخت ورته دعاگانې کوه.
۱۲- د مور او پلار هغه وصیتونه عملي کړه چې کله په کې د اسلامي شریعت مخالفت نه وي.
۱۳- د مور او پلار دوستان د هغوی سره نیکي کول، مثلاً ستا د مور د یوې ښځې سره ښه رابطه وه نو ته اوس هم د هغې احترام کوه او صدقه پرې کوه او د پلار د ملگرو احترام هم کوه.
١٤- د مور او پلار د خپلوانو سره تل ښه چلن کوه او د هغوی د حقوقو ادا کولو کې درنه کوتاهي ونه شي.
۱۵- کله که دې مور او پلار دواړه بوډاگان شي یا یو پکې بوډا شي نو هغوی ته سپک کلمات مه وایه چې ته بوډا یې او ته په خبرو نه پوهېږې.
١٦- هیڅ وخت د مور او پلار سره جنگ او لانجې مه کوه، اگر که ته به د حق په جانب ولاړ یې بلکې په یوه نرمه لهجه مور او پلار ته خپل نظر وړاندې کړه.
۱۷- تل د مور او پلار صحت او روغوالي ته متوجې اوسه او د هغوی د مرض معلومولو له پاره هغه طبي وسائل په کور کې موجود کړه.
۱۸- بخل مه کوه په هغه مال باندې چې ستا مور او پلار یې مصرفوي بلکې ته خوشحاله شه او دا ستا سعادت دی چې مور او پلار ستا د مال نه فایده پورته کوي.
۱۹- ډیر اعتراضات مه کوه په خپل مور او پلار باندې، خاصکر چې کله هغوی بوډاگان شي نو ځینې نیمگړتیاوې به ترې کېږي نو ته هغه ډیر غټ څه مه گڼه او صبر پرې کوه.

۲۰- د مور او پلار ترمنځ په ځینې کارونو کې اختلافات راځي نو ته د ځان نه قاضي مه جوړوه بلکې د دواړو ترمنځ د یو مصلحت نه کار واخله.

۲۱- کله چې د ورونو ترمنځ بیلتون راځي، نو ته هڅه وکړه چې مور او پلار ستا سره شي او پوره خدمت یې وکړې او خپل مال پرې خرچ کړې چې د دنیا او اخرت سعادت ترلاسه کړې.

۲۲- په یوه مشوره کې هیڅکله پلار ته مه وایه چې ته نه پوهېږې او لاړ شه کور کې کېنه که ستاسې پلار په رښتیا هم نه پوهېږي خو بیا هم د هغه د غلط نظر احترام وکړه.

۲۳- په اخترونو کې او په نورو خوشحالیو کې د مور او پلار ټولو ضروریاتو ته متوجه شئ چې په دې ورځو کې څه ته ضرورت لري هغه ورته راوړه.

## د مشورې اداب

۱- کله هم چې مشوره اخلې نو د عقلمند او تجربه کار کس نه مشوره واخله.
۲- کله هم چې مشوره اخلئ نو د دین والا او پرهېزګار کس نه مشوره واخله.
۳- د چا نه چې مشوره اخلې نو دغه کس به مینه کوونکی، مخلص او خیرخواه وي.
٤- همېشه مشوره د صفا فکر والا نه واخله، د هغه چا نه مشوره مه اخله چې یو څوک د دنیا په غمونو او فکرونو کې ډېر دخیل وي.
۵- د هغه چا نه مشوره واخله چې هغه کس خودغرضه او شهرت پرست نه وي.
٦- د حسدګر او کینه کښ انسان نه هیڅ وخت مشوره مه اخله.
۷- که د یوې ډلې خلکو نه مشوره اخلې نو تر ټولو ښه نظر او ښه فکر یکې انتخاب کړه.
۸- مشوره ورکوونکي ته هیڅ وخت تکلیف او ضرر مه رسوئ او د هغې رازونه وساتئ.
۹- کله که د یو انسان مشوره ښه نتیجه ورنه کړې نو د هغې انسان سپکاوی مه کوئ او یوه بله د حل لاره وګوره.
۱۰- کوشش وکړه چې په هر کار کې مشوره وکړې او د نیکانو خلکو نه مشورې واخلئ او په خپل فکر او په خپل نظر ستر ستر کارونه مه شروع کوئ بیا به خفه یاستئ مشوره کې خیر وي.

## د کوروالي اداب

۱- په حالت د حیض او نفاس کې کوروالی حرام دی او په ډیرو طبي نقصاناتو باندې مشتمل عمل دی. په روایت د عبدالله بن عباس کې راځي چې موقوف روایت دی که چا په ابتداء د حیض کې کوروالی وکړ نو یو دینار به صدقه کوي او که په اخیر د حیض کې یې وکړ نو نیم دینار به صدقه کوي.

۲- د حیض په حالت کې هر څه جائز دي په غیر د کوروالي نه چې دا حرام دی نور یو ځای ناسته کول، یو ځای څملاستل وغیره جائز دي.

۳- کله چې حیض ختم شي او غسل وکړي نو بیا وروسته کوروالی جائز دی.

٤- د خپل اهل سره په شاه طرف کې کوروالی کول حرام او نازوا عمل دی او (۲۱) طبي نقصانات لري او د شا طرف نه مخکې طرفته کوروالی جائز دی.

٥- د کوروالي نه وروسته اودس کول او بیا غسل کول افضل عمل دی او صحت ته فائده هم رسوي او یا فقط اکتفاء په اودس کول هم جائز ده او یا خپل اندام وینځل او تیمم کول.

٦- د خپلې ښځې د اولې شپې قیصې خپلو همزولو ته کول حرام عمل دی ځانونه ژغورل ترې لازم دي.

۷- ځیني خلک وایي که د چا په خوب کې (احتلام) وشي نو غسل دې وکړي او بیا دې د خپل اهل سره کوروالی وکړي ولې که کوروالی وکړي او

غسل د خوب د احتلام نه ونه کړي نو که د دې نه ماشوم پیدا شي نو لیونی به وي دا یوه غلطه نظریه ده اګر که جنابت زر زائله کول ضرور دي.

۸- د کوروالي نه وروسته فوراً اوبه مه څکه د طب ډاکټران وایي د دې سره صحت ته نقصان رسېږي.

۹- د خپل اهل عورت نه لیدل ځینې خلک وایي چې دا د سترګو نظر کمزوری کوي دا خبره غلطه ده د خپل اهل ټول وجود ته لیدل جائز دي او په دې اړوند هغه روایت هم ثابت نه دی.

۱۰- د خوراک پسې فوراً کوروالی کول نقصاني دی ځکه هلته معده دخوراک نه ډکه وي نو صحت ته نقصان رسوي، خو دا فقط طبي نظریه ده شرعي نه ده.

۱۱- د کوروالي نه مخکې دا دعاء ولوله (اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا).

۱۲- په کوروالي کې خپل نیت صفا کړه چې زه به په دې سره د غلطو کارونو بچ شم او په دې سره الله تعالی نیک اولاد راکړي.

۱۳- کله که دې په پردی ښځې سترګې ولګېدې نو فوراً خپل اهل ته راشه.

۱٤- د کوروالي نه مخکې ځینې مقدماتي کارونه وکړه چې په هغې سره د خپل اهل توجو ځان ته راواړوې.

۱۵- ځینې خلک وایي چې د خپل اهل سره د میاشتې په شروع کې کوروالی مکروه دی همدارنګه د میاشتې د منځ شپه او د میاشتې اخره شپه خو دا خبرې ټولې کمزورې دي.

۱٦- ځینې خلک وایي که څوک د دوشنبې په شپه جماع وکړي نو د دې نه قاري پیداکېږي او د شنبې په شپه کوروالی وکړي نو سخي ترې

پیداکېږي او پنجشنبې په شپه کوروالی وکړي نو عالم او متقي ترې پیداکېږي خو دا خبرې ټولې کمزوري دي او اساس نه لري.

۱۷- ځینې خلک وایي په رڼا کې کوروالی ښه نه دی دا هم یوه خیالي عقیده ده کوم پروا نه کوي.

۱۸- د خپل اهل شیدې څکل د دې نه پرهېز وکړئ ځکه چې دا مسئله د علماء ترمنځ اختلافي ده چې رضاعت د کبیر ثابت دی که نه دی. راجح قول دا دی چې رضاعت د کبیر ثابت نه دی، خو د عائشې رضي الله عنها نظر دا ؤ چې ثابت دی فلهذا چې کله مسئله اختلافي شوه نو احتیاط کوه اگر که راجح قول دا دی چې ښځه پرې حرامېږي نه او نه پرې طلاقېږي.

## الخاتمه

حمدونه الله تعالی لره دي چې مونږ ته یې دا توفیق راکړ. چې په اسلام کې د ژوند آداب تر عنوان لاندې مو یو څه کرښې ولیکلې.

الله تعالی دي وکړي چې عام وروڼه ترې فایده واخلي، خو دا د دې کتاب اول چاپ دی نو کېدای شي ځینې کتابتي غلطیانې پکې وي، نو په ډېره مینه مونږ ته خبر راکړئ د ځینو غلطیانو چې مونږ یې په راتلوونکي کې اصلاح کړو.

والسلام علیکم

سبحانک اللهم وبحمدک أشهد أن لا اله الا أنت استغفرک و أتوب الیک

أخوکم ابوالزبیر عبدالرب عواد

جلال اباد، افغانستان

چهارشنبه/۱۳۹۵/۲/۲۹هـ ش

# مأخذونه

١- اصول التفسير وعلوم القران، الشيخ ابو محمد حفظه الله ورعاه.

٢- الفوائد، الشيخ ابو محمد حفظه الله ورعاه.

٣- رياض الصالحين، امام النواوى رحمه الله.

٤- ادب الدنيا والدين، على بن محمد بن حبيب البصرى الماوردى.

٥- مسائل الصيام، عواد عفى الله عنه.

٦- په اسلام کې د ژوند اداب، مولانا محمد يوسف صلاحي.

## د ليکوال چاپ شوي کتابونه

١- اولاد روزنه او اسلامي نومونه.........................چاپ
٢- الأدعية المسنونة.......................................چاپ
٣- غلط مروج مسائل پيژندل.............................چاپ
۴- شرح الأربعين النووية.................................چاپ
۵- مسائل الصيام..........................................چاپ
٦- السيرة النبوية.........................................چاپ
٧- د مور احترام په(١۵٠) طريقو.......................چاپ
٨- د ژوند اداب...........................................چاپ
٩- ماشوم روزنه ....................................... ...چاپ
١٠- د پلار احترام په (١١٠) طريقو ........................ چاپ
١١- (٦٠٠) سنت طريقي ..................................... چاپ
١٢- ناوړه دودونه........................................... چاپ

